د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره
معلوماتي پاڼه

دیوید مینسفیلد او ادم پین 1386 کال

# په افغانستان کې د کوکنارو د کر د متغیره کچو پیژندل: د سیمې څخه شواهد

## لنډیز

دافغانستان په ولایاتو او ولسوالیو کې د کوکنارو د کر د کچو لوړیدل او ټیټیدل هغه متعدد عواملو پورې اړه لري چې په ښه توګه په ګوته شوي ندي. د کوکنارو په کر کې پریوتنه ډیری مهال د ولایتي او سیمه ایزو مقاماتو د سیاسي ژمنو او معلوماتي کمپاینونو پورې منسوبیږی، پداسی حالکې چې ددی اصلي لامل او اقتصادي تحریک چې د کوکنارو د کر تر شا موجود دي، ددی لامل ګرځي څو دغه بدلونونو ته لګه پاملرنه وشي. هغه ادعاوی چې د کوکنارو د کر د سیمو د کمښت بریا په ډاګوی، د 1386 کال په بهیر کې په ځینو سیمو کې پاتی راغلي څو هغه رول ته ځواب ووایي چې کورنیو د کورني اقتصاد د ودی په موخه د کوکنارو پر ځای ترسره کاوه.

د بدخشان په شمال – شرقی ولایت کې، اوسنی عمومي پریوتنه په هغه سیمو کې چې د کوکنارو تر کرلاندی دي ځرګندوي چې د کوکنارو د کچې ټیټیدل کېدای شي برئ ومومي، په هغه صورت کې چې ښه اقتصادي شرایط وضع شي. خو دا لاسته راوړنې په هغه سیمو کې چې بازارونو ته ښه لاسرسي لري محدود دي. د غور په ولایت کې، چیرته چې د خوړو د نشتوالي خطر ډیر دی، هغه عوامل لکه لږ محصول، د کوکنارو ټیټ نرخ او د کارکونکو جګه باړه د کوکنارو د کر د ډیر لګښت لامل ګرځیدلی چې بزګران بی له کوم عکس العمله اړ باسي څو خورا لګه مځکه د کوکنارو کر ته اختصاص کړي. د بلخ په شمالي ولایت کې، د کوکنارو د کر په سیمو کې چټکه پریوتنه د فشار څخه پرته د مادیاتو په نتیجه کې رامنځته شویده، که څه هم د مخدره توکو ټیټ نرخ هم ښایي د کرونده ګرو د کوکنارو د نه کر د منلو وړ ګرځیدلي وي. بالاخره، د افغانستان په شرق د ننګرهار په ولایت کې، د کوکنارو د کر په سیمو کې چټکه پریوتنه چې په 1384 کال کې رامنځته شوه، تلپاتې ثابته نشوه.

په افغانستان کې د کوکنارو د کر د متغیره کچو د توپیر پیژندنه، د افغان کلیوالو کورنیو په معیشت کې د کوکنارو د کر د څو – فعالیتي رول پیژندنی ته اړتیا لري د

## محتویات

1. د کر د کچو لوړیدنه، د ولایتي اختلاف تمایل
2. د څلورو ولایاتو څخه نکل
3. د هغه پالیسی په لور چې د شواهدو سره یوځای وي
4. د پالیسی اغیزي
5. مخ پر وړاندی لارې

دیود منسفیلد د مخدره توکو په چاپیریال کې د انکشاف متخصص دی چې په هغه هیوادونو کې چې د مخدره توکو چینی دی، 16 کاله تجربه لري. نوموړي 10 کاله د افغانستان په کلیوال معیشت ستراتیژئ کې د کوکنارو په رول څیړنه ترسره کړې.

آدم پین د انکشافي مطالعاتو په پوهنتون ایست انګلیا انګلستان کې د محقق/څیړونکي په حیث، او همدارنګه د سویدن پوهنتون د زراعتي علومو په څانګه کې د ښوونکي په حیث دنده ترسره کوي.

## اساس شرایط

**ګواښ:** د ویرې او ېېښو احتمال چې کورنۍ اړباسي تر څو هوساینه له لاسه ورکړي. چې دا کېدای شي د طبعي پېښو، د نرخونو متعدد بدلون او یا د نورو خلکو د قصدي یا خپل ځانی چلند د دلایلو پر بنسټ پیښ شي چې توکي، ټولنه او احساساتي هوساینه تهدیدوي.

**ناامني:** د خطراتو په خلاف د وقایې نشتوالی او یوائې فزیکي ناامنۍ ته محدود وي. د بشري ناامنۍ او معیشت په لړ کې ډیر مهال د لیدو وړ ده.

**غیررسمي:** هرهغه شي چې د دولت له لوری تنظیم شوی نوي. که څه هم دا د قواعدو د نشتوالي په معنا ندی، په داسی حالکې چې د کنټرول لپاره ډیر غیر دولتي وسایل هم شته.

**هوساینه:** داسی حالت چې د کورنۍ خوشحالي او د مادي، ټولنیز او احساساتي اړتیاوو کچه پوره کړای شي.

افغانستان ډیرئ کلیوال نفوس چې د خطر او ناامنۍ د سختو شرایطو لاندې ژوند کوی، خپل هوساینه او تحفظ په غیررسمي ډول تر لاسه کوي. کوکنار – یو محصول د لړ خطر سره د چاپیریال لپاره ستر خطر، یو بحراني میکانیزم رامنځته کړې دی چې ډیرئ کورنۍ په دی قادر شوي څو خپل تحفظ او هوساینې ته لاسرسي ومومي. هرڅو که دغه امنیتي غیررسمي رژیم غریب کرونده ګر د وکېل - موکل تر منځ په ژوره اړیکه کې بند ساتي کوم چې د مراتبو د سلسلو او نامساوي قدرت په واسطه څرګندیږي. غوره ځواکمن د دولت دننه او یا په بهر کې د تحفظ او ملاتړ په برابرولو سره د ولایت او ولسوالۍ په کچه د کوکنارو د کر تجارت د یوی مناسبې وسیلې په څیر تر سره کوي.

دغه غوره ځواکمن د فشار، د سیمه ایز قانون ماتونکو او سوداګرو سره د معاملو او د راتلونکو مرستو د ژمنو نه په استفادی سره په دی توانیدلي تر څو د کوکنارو کر د لنډ مهال لپاره ټیټې کچې ته راوړي. د بلخ ولایت هغه وروستنې ولایت دی چې د کوکنارو د کر سمبولیک/ډراماتیک نزول د قابو ساتلو په موخه د دغه میتودونو څخه کار واخلي. تر اوسه په 1384 او 1386 کلونو کې د ننګرهار او نورو ولایاتو تجربې برڅیره کوي چې د کوکنارو په کر کې دا راز کموالي لنډمهال وي. بالاخره، په عاید او هغه شتمنۍ کې کمښت کوم چې کورنیو د کوکنارو د کر د ډراماتیک پریوتلو په پایله کې تجربه کړې دي، حالات د یو سیاسي بحران د بدلون په لور راکاګي. کله چې ډیرئ کورنۍ دغه اقتصادي بحران سره مخ شي، سیاسي رهبران مهمه نده هرڅو که د قدرت او نفوذ غوښتنه وکړي او یا بهرنیان کوښښ وکړي تر څو هغوی ته دغه فرصتونه برابر کړي – مجبوره دي ترڅو ناشونی د کوکنارو د لاډیر کر څخه مخنیوی وکړي او که داسی ونکړي نو خپل سیاسي قدرت یا ژوند به له لاسه ورکړي.

په هرحال، که چیری دغه د کوکنارو ډراماتیک کموالي په لنډه موده کې ترسره شي نو کېدای شي د غوره ځواکمنو لپاره د بریا حالت وي. د یو ولایت یا ولسوالۍ سیاسي مشرې د حاکمو اقتصادي شرایطو سره سره چې ډیری مهال له نظره غورځیږي یا د بحث لاندی نه نیول کېږي، کېدای شي د کوکنارو د کر د کموالي له امله جایزه تر لاسه کړي. سیاسي رهبران امکان لري د اړوند ملي او نړیوالو لوبغاړو هڅونه ترلاسه کړي، او که چیری د انکشافي مرستو وړاندیز په نږدی راتلونکي کې وي، دوی حتی کولای شي خپل سیاسي جایزه د ولایت یا ولسوالۍ د خلکو څخه ترلاسه کړي که د کوکنارو کر پرلپسی بیا پیل شي یا زیاتي ومومي، دغه قدرت لرونکي نړیواله ټولنه او د افغانستان حکومت په مناسب وخت کې د اړتیا وړ اقتصادي پرمختګ په نه راوستلو کې ګرم بولي.

مرستندویه سازمانونه چې په دغه موضوعاتو باندی کار کوي عموماً په لنډ مهال کې د پوره اقتصادي فعالیتونو په لاره اچونه قادر شوي ندي تر څو د عوایدو او د شتمنیو د لاسرسی. هغه کموالي چې د کوکنارو په کر کې د کموالي له امله منځته راځي پوره کړای شي. د عوایدو او عامه ښیګڼو د ودی میانځګړتوب کلونو ته اړتیا لري، نه د کال د کرهنې یو موسم ته.

د موثره اقتصادی فعالیتونو نشتون چې د عوایدو او وسایلو د کمښت ځای ونیسي او د خلکو امنیت او هوساینه تامین کړي، کلیوال نفوس یوه بله لاره غوره کړي څو د مخدره توکو پرضد د مبارزو په خلاف خپل انزجار څرګند کړي. د دغه خلکو په منځکې شکایتونه لدی کبله زیاتوالي مومي چې د هغوی سمدستي رومبیتوب لکه امنیت، کار موندنه او د اداري فساد لمنځه وړلو ته پاملرنه نکیږي او داچې نړیواله ټولنه او حکومت د غرب لومړنۍ ستونځې ته چې د مخدره توکو لګښت دی د بزګرانو د محصولاتو و ویجاړولو پواسطه رومبیتوب ورکوي او ددې سره د هغوی هوساینه او عوایدو تحفظ زیانمنوي.

## د پالیسۍ تجاویز

- د مخدره توکو پرضد د مبارزې کوښښونه باید هغه زمينه چې د بزګرانو کړه وړه په ډاګه کوي، خپله موخه وګرځوي. هغه میتودونه چې د کوکنارو ریښه ایستنی ته رومبیتوب ورکوي یا پرته لدې چې کومه زمینه ورته په پام کې ولري د بزګرانو د کړو وړو د بدلون لپاره کوښښ وکړي، ناشونی ده چې مثبتی پایلی ولري او ښایي بیسوده هم اوسي.

- مخکې لدی چې د کر په طرحه کې کوم بدلون راشي او معیشتي فعالیتونو ته د "بریالیتول" لقب ورکول شي، دا ضروري ده څو غوره بدلون په هغه زمينه کې چې د کورنیو کړه وړه تاکي توضیح او وپیژندل شي.

- د هغه عواملو د پیژندلو لپاره کوم چې د کوکنارو د کر د تغیر او بدلون ترشا شتون لري، د مدني پوهنی دقیق او څرګند کوښښ پراخولی ته اړتیا لري. دا یو قوي څو – مخیځ تحلیل ته اړتیا لري چې د احتمالي خطر او هغی ته د ځواب وینی څرنګوالي ته بدلون ورکوي.

- د میانځګرتیا ترکیب چې د بزګرانو محصولاتو ته د مشخص ځواب په موخه طرحه کېږي، هغه تشکیلاتي او بنیادي دلایل چې د کوکنارو د کر تر شاه وجود لري، نه په ګوته کوي. ډیر بنیادي تغیراتو ته اړتیا ده ترڅو د عامه ښیګڼو د خطر او نا امنۍ د زمینی کمول کوم چې د فزیکي او ټولنیز بنسټ د زیرمې پواسطه برابریږي، د غربت تشکیلاتي عوامل لکه په کرهنه او کلیوال بی ځمکې سکتور کې د غریبی طبقې د منفعت پراختیا په ګوته کړي، او

- د معیشتي چارو خپرونی باید هغه کلیوالی کورنۍ ښه په ښه کړي چې اوبه لرونکو ځمکو ته محدود لاسرسي او لږ زراعتي او غیرزراعتي عواید لري.

هغه عقیده چې حکومت لیوال دی ترڅو د کوکنارو د کر د تحریم د پلي کولو په موخه کلیوال نفوس کمزوری کړي، کلیوال نفوس لا ډیر بیزاره کوي. ډیرئ کروندګر پدی اند دی چې کوم کسان چې بندیزونه پلي کوي او ددوی محصولات له منځه وړي، هغوی خپله د مخدره توکو په قاچاق کې ښکېل دي چې دغه حالت اوضاع کړکېچنه کړی ده، په همدی ډول، د څرګنده بډی اخستنی درک او هغه پوهه چې د کوکنارو ریښه ایستنه یواځې زیانرسیدونکي خلک په نښه کوي او د هغه خلکو محصولات چې د قدرت او نفوذ په منصب کې دي ناګټلي انګیري. دغه عقایدو ځینی کلیوال نفوس دی ته اړ کړي ترڅو د حکومت او نورو د ملاتړ څخه لاس واخلي او په څرګنده توګه یې مخالفت وکړي. د بیلګی په ډول، د ننګرهار په ولایت کې د بزګرانو نسبی داسی برخیره کېږي چې د حکومت سره مخالفت او پرځای یې هڅه کوي ترڅو د دولت ضد یاغیانو ملاتړ وکړي.

د 1386 کال د کرهنی موسم په پیل کې، د سیمې څخه شواهد توصیه کوي چې د افغانستان په کلیو کې د لاډیری نا امنۍ مخنیونه د کوکنارو په کر کې د کمښت دقیق توازن، امنیتي اقدامات، ولسپالنې او اقتصادي ودی ته اړتیا لري. ترهرڅه مهمه دا چې، د مخدره توکو پر ضد د مبارزې کوښښونه نباید د "آباد او پایداره افغانستان" د اوږد – مهاله اهدافو بنسټ لمنځه یوسي.

# 1. د کر د کچو لوړېدنه، د ولايتي اختلاف تمايل

د مخدره توکو او جرمونو پرضد د مبارزې لپاره د ملګرو ملتونو دفتر او د مخدره توکو پرضد د مبارزې وزارت په افغانستان کې د 1386 کال د کوکنارو د کر د سروی رپوټ داسې وړاندې کوي چې، د 1386 کال د کوکنارو د کر د موسم په بهير کې 193000 هکتار مځکه په افغانستان کې په کوکنارو کرل شوی ده. دا رقم 17 فيصده زياتوالی په 165000 هکتار کرل شوی مځکه باندې په 1385 کال کې ښکاره کوي چې قابو د 1384 کال څخه وروسته د کر سيمه دوه برابره ښکاره کوي، پداسې حالکې چې هيله کېده ترڅو 140000 هکتاره مځکه په ټول هيواد کې په کوکنارو وکرل شي. د کوکنارو د کر غيرمتراکم معلومات د کوکنارو تمرکز په جنوبي هلمند، کندهار، ارزګان، دايکندي او ذابل په ولايتونو کې ښکاره کوي. دغه پنځه ولايات په 1386 کال کې په يوائې توګه 69 فيصده ټول کر ته ځواب ورکوي چې دا کر د 1385 کال په پرتله 61 فيصده زيات دی. هرڅوکه د کوکنارو کر د هلمند په ولايت کې په پورته خوا جريان لري چې په ځرګنده توګه د ناامنۍ ودې ته منسوب شوی، دا د پاموړ زياتوالی په ننګرهار ولايت کې پس له دوه کاله د کوکنارو د کر د پرلپسی ټيټې کچې څخه وروسته رامنځته شوی چې د سترکرکيچ لامل ګرځي.

په جنوبي لوري کې د کوکنارو زياتوالې په شمالي، شمالغربي او مرکزي ولاياتو کې د کوکنارو د کر د کموالي سره په ځرګند ډول مقايسه کېږي. د بدخشان ولايت چې د کوکنارو د کر په لړ کې اوږد تاريخ لري او د 1380 کال څخه وروسته د کوکنارو ستر توليدونکي شو، د 1385 او 1386 کلونو په منځکې 72 فيصده کموالي په سيمه کې ومومند. که څه هم د بلخ په ولايت کې د پاموړ کموالي چې په 1385 کې د قابو 7232 هکتار کرل شوی مځکې څخه صفر هکتار ته په 1386 کال کې ورسيد. ددی بې ساري کموالي په هکله نظريات توپير لري. د دا راز انزوا او د هغی احتمالي دوام د لاسته راوړلو په موخه ميتودونه د خاص آزمايښت لاندی په کار وړل کېږي. د کوکنارو د کر د کچو ټيټيدل په شمالغربي او مرکزي ولاياتو کې هم پام ځان ته راګرځولی دی، او مرستندويه او د مخدره توکو پرضد اورګانونه چې په دغه سيمو کې په فعاليت بوخت دي، په نظر کې لري چې څه بايد وکړي څو دا د کوکنارو د کرکچې ټيټې وساتي.

په افغانستان کې د 1386 کال د کوکنارو سروی ثابتوي چې بنيادي کېفې توپيرونه د کوکنارو د کر ټيټوالی په شمال او په جنوب کې جګوالي ته ځواب وايي، دا په ځرګند ډول د "حرص او فساد" په لړ کې بيلابيل تمايل د بی قانونه جنوبي سيمو په پرتله د خوندي خو ډيرغريب شمالي او مرکزي ولايتونو حالت توضيح کوي. دغه د کوکنارو ټيټې کچې په شمال کې "رهبري، انګيزو او امنيت"[1] ته منسوبيږي آيا دا د کوکنارو د کر د کچو د متغيره تحريک لپاره د ولاياتو او سيمو ترمينځ يوه کافي شرحه ده؟ که ده، نو آيا د انفرادي بزګرانو د کړو وړو په بدلون ټينګار شوې دې چې د خطر د احتمال زياتوالې او د ريښه ايستنی د قبلونی د تحميل پواسطه تر سره شي – کوم چې د هغه پراخه زمينی څخه چې د هغوی کړه وړه تر اغيزی لاندی راوړي بی پروايي ده؟

د کوکنارو د کر کچې چې د ډول ډول مغلق او خپل منځي دلايلو په اساس چې اکثراً ناڅګلي انګيرل کېږي، پورته او کښته کېږي. پر ځای يې، په کومو ځايونو کې چې د کوکنارو د کر د کچو کموالې کال په کال برې ومومي، دغه بريالیتوبونه د ولايتي او سيمه ايزو مقاماتو او د مخدره توکو پرضد د مبارزې د فعاليتونو رول ته او د معلوماتي ستراتيژئ ژمنو ته په آسانه توګه منسوبيږي. دا چې څنګه او په کومه اندازه هغه نورو محصولاتو ته چې کورنيو پخوا د کوکنارو پرځای د کورنۍ اقتصاد په وده کې پکار وړل، لګه پاملرنه کېږي. او د کوکنارو د کر څخه د بهروتنې د استحکام احتمال ته خورا لګه پاملرنه کېږي يا خو دغه بهروتنه تحميليږي او لنډمهاله وي، او يا خو د ناامنۍ د کمولو پخاطر چې د وګړو کړه وړه ټاکي، د اوږد - مهال لپاره د منلو وړ ده.

دغه مختصر رپوټ د کوکنارو د کر د کچو اوږد – مهاله تغيرات په څلورو ولاياتو کې سرتر پايه ارزوي. دغه تحقيق چې په پراخه توګه د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري لخوا د غور، ننګرهار او بلخ په ولايتونو کې په لاره اچول شوي دی او د ساحوي کار څېړنه چې د دواړو د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره او د آغاخان انکشافي شبکې پواسطه د بدخشان په ولايت کې په لاره اچول شوی دی، په جغرافيايي ژور طول البلد باندی انځوروي. دغه مختصر رپوټ هغه مسايل چې د کوکنارو د کر د کموالي او زياتوالي لامل ګرځي او په کليوالو کورنيو باندی د هغې د اغيزو پايلی څه دي، ارزوي. سربيره پردی، دا چې دغه شاخصونه د مخدره توکو پر ضد د مبارزې او سنې او راتلونکې مشق څه برخيره کوي، د غور لاندی نيسي.

1. د مخدره توکو او جرمونو پرضد د مبارزې لپاره د ملګرو ملتونو دفتر UNODC او د افغانستان حکومت د مخدره توکو پرضد د مبارزې وزارت MCN، په افغانستان کې د1386 کال د کوکنارو سروی: اجرايوي لنډيز (1386کال)، پ ۴، ۵.

## 2. د څلورو ولایاتو څخه نکل

### شکل: په 1374 – 1386 کلونو کې د بدخشان، بلخ، غور او ننګرهار په ولایتونو کې د کوکنارو د کر کچې




چینه: د مخدره توکو او جرمونو پرضد د مبارزې لپاره د ملګرو ملتونو دفتر/د مخدره توکو پرضد وزارت، 1386 کال

پاسني ارقام د کوکنارو د کر د کچو تغیرات د 1374 څخه تر1386 کلونو په موده کې په څلورو څېړل شویو ولایتونو کې توضیح کوي. په خاصه توګه د 1380 کال څخه وروسته د کر تغیرات په داخل د دغه ولایاتو او ددی څلورو ولایاتو په منځکې مقایسه څه روښانه کوي؟

### ننګرهار: اقتصادي پرمختګ او سیاسي بحران[2]

د ننګرهار ولایت د پاکستان سره په غربي سرحد کې میشت دی. دغه ولایت د لغمان او کنړ ولایت سره په شمالي لور، کابل او لوګر سره په غربي لور او پکتیا سره په جنوبي لور کې خپلوي کوي. ننګرهار یو د افغانستان د ګڼ نفوسه ولایاتو څخه دی چې قابو 1.8 میلیونه نفوس لري. دغه ولایت نسبي تود اقلیم د معتدل ژمي سره (د غرونو په استثنا ) او تود دوبي لري. د ننګرهار په هغه سیمو کې چې د کابل او کنړ د سیندونو په واسطه اوبول کېږي کېدای شي چې د کوکنارو دوه ګونی کر بری وموسمي او د زراعتي محصولاتو لړی د لیمو او زیتون د ونو په ګډون د دغه ولایت د مینځني سیند په ډنډوکي کې په پراخه توګه کرل کېږي. دغه سیمې همدارنګه د کرهنی د مناسبو وسایلو او د جلال آباد په مرکز کې د کارکونکو د بازار د نژدیوالي څخه هم ګټه اخلي. په نورو سیمو کې چیرته چې دغه سیمې د موسمي سیلابي نهرونو یا د ځمکې لاندی د اوبو رسوني سیستم لکه کاریزونو[3] باندی متکي دي د اوبو لګوالی ډیر عام او کرهنه ډیره محدوده وي. د 1369 کال په پای او د 1379کال په پیل کې وچکالي پدغه سیمو باندی په څرګند ډول اغیزه لرله. دا هغه ځای دی چیرته چې د کوکنارو کر په خاصه توګه د ولایت دننه ډیر متمرکز شوی وو، او چیرته چې د هغه ځای خلک ډیر زراعتي محصولاتو پوری تړلي دي تر څو خپل لومړنی اساسي اړتیاوی لاسته راوړي.

د 1384 او 1385 کلونو د کر په موسم کې د کوکنارو د کر په کچه کې د 96 فیصده کمښت په تعقیب، د ننګرهار ولایت د مخدره توکو د کنټرول د

2. د سیمه ییز کار په اساس چې په 1386 کال کې د مینسفیلد پو اسطه په ننګرهار ولایت کې ترسره شو (د سیمه ییز کار ریوټ په نږدی راتلونکی کې خپرېږي).

3. کاریز عبارت دی له هغه د ځمکې لاندې سورونګ څخه چې د اوبو د منبع څخه چینه اخلي او بالاخره د ځمکې سطحې ته رسیږي.

بریالیتوب منعکس کوونکي په توګه وستایل شو. دغه ډراماتیک کمښت د جبر، فشار او د انکشافي مرستندویه مرکب/عناصرو پواسطه بریالی شو. د افغانستان ولس مشر ښاغلی کرزی چې د ټاکنې څخه یې په 1383 کال کې د اکثریت ننګرهاریانو لخوا ملاتړ شوی ؤو، او د ننګرهار پخوانی والي حاجي دین محمد، د ننګرهار ولایت د خلکو د قانع کولو په موخه د پام وړ شتمنۍ ته توسعه ورکړه ترڅو بندیزونو ته غاړه کېږدي او د مخدره توکو پرضد د جهاد ملاتړ وکړي. ددغه بندیزونو د پلي کولو دنده ولسوالانو او امنیتي قوماندانانو[4] ته سپارل شوې وه.

په 1385 کال کې د کوکنارو د کر کچې پرلپسې ټیټې پاتې شوې. که څه هم د اقتصادي فشار علامې لاپخوا موجودې وې، او په هغه ځاینو کې چیرته چې کورنۍ د ژوندون لپاره لږ وسایل لرل، د معیشت پخاطر شدیداً د کوکنارو حاصل ته اړ ؤو او په کومو ځایونو کې چې ستر قومي پیوستون[5] شتون درلود، د دولتي مقاماتو لپاره دا خورا ګرانه وه ترڅو دغه بندیزونه حفظ کړي. د 1386 کال د کر په موسم کې کوکنار د ننګرهار ډیرو سیمو ته د قابو 18739 هکتاره کرل شوې مځکې څخه چې 285 فیصده ډیروالی په هغه اندازه مځکه کې چې د کوکنارو د کر په موخه 12 میاشتو ته تخصیص شوې وه چې پس د 1384 کال څخه قابو 1650 فیصده زیاتوالی ته بیرته وګرځیده. د ننګرهار ولایت د کوکنارو په کر کې ددې زیاتوالي سره د کر د سیمې دویم مقام بیا لاسته راوړ، کوم شکل چې په 1370مه لسیزه کې یې غوره کړی ؤو.

نن ورځ د ننګرهار په ولایت کې د کر درجه د ولسوالیو په تفکیک تفاوت لري. په هغه سیمو کې چې د 1384 کال په موسم کې لنډه ځنډونه او د کوکنارو د کر یوه بیرته ګرځیدنه په 1385 کال کې د 40 – 70 فیصده اوبه لرونکو مځکو لیدلې وه، په 1386 کال کې دا خورا ګرانه وه چې بې له کوکنارو بل څه ولیدل شي. د بیلګې په ډول، په 1386م کال کې د خوګیانیو، پاسني شینوار او لاندیني اچین ولسوالیو په ځینو برخو کې د 90 – 95 فیصدو ډیره اوبه لرونکې مځکه د کوکنارو کر ته اختصاص شوې وه. یواځې درې هغه ولسوالۍ چې د جلال آباد په شاوخوا کې میشت وې، د کر سطحې کچې یې درلودې.

د کوکنارو د کر د نوي طغیان دلایل په ننګرهار ولایت کې په څرګنده توګه د اقتصادي بحران د ودې سره تړون لري چې د 1384 او 1385 کلونو په بهیر کې د کوکنارو په کرباندې د بندیزونو له کبله رامنځته شو. د کر په دغه موسم کې بزګرانو په ډیرو ولسوالیو کې ډیرئ کوکنار د غنمو سره تعویض کړل، چې د کورني عوایدو د کموالي لامل پداسې حالکې وګرځید چې د زراعتي او غیرزراعتي کارونو فرصتونه د کوکنارو د کر د کمښت له امله کم شوي وو. پدغه سیمو کې په لږه اندازه د مځکې کر او د ګڼ نفوس تراکم ددې لامل ګرځیدلی ترڅو لږ بزګران د غنمو له درکه پرېښنو ودرېږي، هغوی په څرګند ډول اړ دي څو خپل محصولات وپلوري یا کار وکړي ترڅو خپل د اړتیا وړ لومړنۍ اړتیاوې ترلاسه کړي.

شواهد، د جلال آباد د شاوخوا په ولسوالیو کې د سبزیجاتو د پیداوار یو لوړ کمیت څرګندوي. هرڅوکه، دا راز مخکښې په دغه ولسوالیو کې مارکېت ته د محدودو لاسرسیو له امله او د محصولاتو د لیګلو د ستونځو له کبله شوني نه وه. د بندیزونو د کلونو په بهیر کې، د کوکنارو د نشتوالي او د محدودو زراعتي او غیرزراعتي عوایدو لاسرسي ډیرې کورنۍ دې ته اړ باسل څو خپل اوږد – مهاله شتمنۍ وپلوري او د قرضونو د انباریدو سره مخ شي. پدې اساس، په 1386 کال کې کورنیو د ننګرهار ولایت په لرې پرتو ولسوالیو کې د پورونو د بیرته تادیې او د عوایدو او له لاسه تللیو شتمنیو د جبران لپاره د کوکنارو د کر څخه پرته محدودې لارې چارې لرلې.

د حیرانتیا وړ نده چې اقتصادي بحران د سیاسي کړکیچ د ودې سره مرسته کړې ده. د سیمې څخه شواهد د خلکو زیاتیدونکي نیوکې نسبت د کوکنارو په کر باندې د بندیزونو پیل او سوګ په ډاګه کوي چې ننګرهار یو د دغو ولایاتو څخه دی، چیرته چې دغه ټول تحمیلیږي. د 1386 کال د کر په موسم کې د شینواري، خوګیاني او مومندري قومونو خپل صریح مخالفت څرګند کړ څو د کوکنارو د کر ټیټې کچې د دریم کال لپاره وګالي او د ایتلاف چمتوالی یې اسانه وموند. د محصولاتو ډیرئ ریښه ایستنه د 1386 کال د کر د موسم په لومړي پړاو کې د هدف موخه ګرځیده چې په څرګند ډول د لاسرسۍ وړ ډیرې سیمې کوم چې د ننګرهار ولایت د کانال پواسطه اوبول کېدې – داسې څرګندیده چې دا ریښه ایستنه ښایي د قومونو او وکیلانو سره د خبرواترو نه پرته تحمیل شوې وي. دغه کړکیچ او د خلکو نارضایتي په 1386 کال کې د ناارامۍ په ډیریدو پیل وکړ. پداسې حال کې چې د ولایت په ډیرې لرې پرتو برخو کې – لکه د پچیرواګام، اچین او نازیان ولسوالیو – چې غیرمعمولي ندي، په 1386 کال کې لاندې پرتې سیمې لکه بټیکوټ او شینوار کې چې د احتجاج خورا لنډ تاریخ لري، ناارامي په پرلپسې توګه زیاتې وموند.

ریښه ایستنه وروسته د 1386 کال په موسم کې د پراخ فساد نیوکو سره په خاصه توګه د شینوارو، بټیکوټ، مومندره او خوګیانیو په ولسوالیو کې تراو لاره. هغه ادعاوې عامې وې چې بزګران کولای شي د ولسوالۍ

---

[4] د لازیات تفصیل لپاره دیوید مینسفیلد، پریا یا غربت ته مراجعه وکړئ؟: د 1384 کال د کر په موسم کې د ننګرهار په ولایت کې د کوکنارو په کر بندیز او د کلیوال معیشت په ستراتیژۍ باندې د هغې اغیزې، کابل، GTZ، 1384 کال.

[5] دیوید مینسفیلد، د اوبو تنظیمات، مالداري او د کوکنارو اقتصاد: د کوکنارو کر د ننګرهار او غور په ولایت کې، کابل: د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره، د 1385 کال د دسمبر میاشت.

مامورینو ته د 3000 – 3500 پاکستاني کلدارو/جریب[6] په تادیې سره خپل محصولات د ویجاړیدو څخه وژغوري. د ډیرو کروندګرو لپاره دا خورا ډیره ګرانه وه څو محصولات یې د سیمه ایز او ولایتي مقاماتو پواسطه چې د هغوی په آند خپله په فساد او د مخدره توکو په قاچاق کې ښکېل دي، له منځه یوړل شي.

د 1386 کال د کر په موسم کې، د ننګرهار په ولایت کې حالات تر پخوا ډیر کړکېچن بریښیده. په 1386 کال کې د پیازو ډیر تولید او د حاصل څخه وروسته د هغې د نرخونو پرلپسې لویدنه د جلال آباد شاوخوا ولسوالیو کې د بزګرانو او د سبزیجاتو سوداګرو د پامور زیان لامل وګرځیده، دا هغه خلک دي چې بالاخره کوکنار یې د نورو سوداګریزو محصولاتو او د ښاري مزدورۍ سره تعویض کړي ؤو. په 1386 کال کې په پاکستان کې د مهاجرینو د کمپونو تړنه، دغه سیمې یې د راستنیدونکو په شمیر کې په زیاتوالي سره او د هغه وسیلی نشتوالی سره چې کورنۍ یې په پاکستان کې د موسمي کار (د کوکنارو د کر) پواسطه سمبالولې، لا متاثره کړي. د کارکونکو د کار د فرصتونو د کموالي، د ګڼ نفوس د تراکم او د پیازو د ټیټ نرخونو ترکیب، په 1386 کال د کر په موسم کې د کوکنارو د کر د کچو د پورته تللو امکان ډیروي حتی په هغه سیمو کې چې د ولایت د مرکز سره نږدې میشت هم دي.

د سیمې څخه شواهد داسی توصیه کوي چې د ننګرهار ولایت په ځینو ولسوالیو کې د راتلونکي کر د موسم په بهیر کې، خلک د خپلو محصولاتو د خوندي ساتلو په موخه د دولت ضد یاغیتوب په تمه دي. په غوره ولسوالیو کې د وسله والو ډلو شتون چې د دولت ضد قومندانان لکه انوارالحق مجاهد او حاجی زمان سره پیوستون کړې دي، په اوسني حالت کې د دولت پر ضد د ښکاره یاغیتوب د رول په څیر لیدل کېږي. امنیتي حالت د ولایت په ټولو برخو کې د ناڅاپه چاودنو، په وسلواله دولتي ځواکونو د برید او د جرمي پیښو د کړنلارو په زیاتیدو سره چې حتی د ولایت د مرکز شاوخوا ولسوالیو – لکه سرخرود، پچیرواګام، اچین او خوګیانیو کې د خرابیدو په حالت کې دی. د ننګرهار په ولایت کې د قومونو ترمنځ یووالې او د دی پټ قوت چې که چیری پر دوی فشار تحمیل شي، نباید ناګڼلی وګڼل شي او په ټول لاسي توګه ورته غبرګ ځواب ورکړل شي، تاریخ څرګندوي چې د ننګرهار په ولایت کې سیاسي کړکېچ کولای شي د ستر احتجاج لامل وګرځي.[7]

## بلخ: د مخدره توکو پرضد بریالۍ پالیسي؟

کله چې د سیمې څخه شواهد د بلخ ولایت د کوکنارو په سیمه کې د کمښت اهمیت سره کوم چې د افغانستان د 1386 کال د سروی په رپوټ کې ویل شوي دي، سیالي ونکړي، د هغه ادعاوو ملاتړ نکوي کوم چې د دی د عواملو ترشا موجودی دي. ډیر خلک د بلخ په ولایت کې د کوکنارو د کر ددې بی ساري لویدنې بریا چې – په 1385 کال کې د قابو 7232 هکتاره مځکې څخه په 1386 کال کې صفر هکتار ته وه، د عامه پوهنی د کمپاین چې د اقتصادي پرمختګ سره مل ؤو منسوبوي. د بلخ په ولایت کې سیمه ایز کار توصیه کوي چې، په هرحال، د کوکنارو په کر کې د کمښت دلایل کېدای شي چې د قدرت د جوړښت، نژاد او سمت په برخو کې په روښانه توګه څرګند شي. دا د یو پیچلی زمینې غوره رول چې د مخدره توکو د کنترول او د قاچاق د مقرراتو د ملاتړکونکو پواسطه چې په اړوند ولایت کې رسمي او غیررسمي ګوندونو پورې تړاو لري ترسره کېږي.

د بلخ ولایت د افغانستان په شمال لوري کې د ترکمن په دښته میشت دی، او د کرهنې طبعي منظره یې د اوبولو په غوره خپرونې باندی چې د بلخ ولایت د سیند څخه سرچینه نیسي، تسلط لري. د بلخ ولایت د پیژند مرکز ددی ولایت تاریخ او د استوګنی پیچلی طرحه او د 19مې زیږدیزې پیړۍ څخه وروسته د اوبولو تشکېلاتي او زراعتي سیستم په برخو کې پرلپسی پرمختګ دي. پدی ولایت کې د استوګنی د ودې او تکامل لړۍ تر نن ورځ پورې دوام لري. تر 1329 کلونو پورې د نفوسو کموالي د مځکو زیاتوالي، د بلخ په ولایت کې د خلکو د مځکې او چینو مبارزه د کړکېچ لپاره کومه مسله یا دلیل نه ؤو. د جنوب لوري څخه د مهاجرینو لړۍ په چټکه توګه دوام درلود ترڅو په میشته خلکو باندی په څرګنده توګه د چینوترڅیرمه د استوګنې پواسطه خپل سیاسي او اقتصادي تسلط ټینګ کړي. که څه هم اوس مهال د اوبولو سیستم د اوبو د حده ډیرې مطالبی او د اوبو د ویش د قوانینو او کړنلارو د ماتیدو له کبله د سقوط ټکي ته رسیدلی.[8]

د بلخ په ولایت کې د کوکنارو د کر څلور متمایز پړاوونه کېدای شي د څرګنده فضایي او لنډمهاله ابعادو پواسطه وپیژندل شي. د لومړي پړاو خصوصیات د 1373 کال څخه مځکې د ډیر منحصر او محدود کر پواسطه څرګند شوي ؤو. دویم پړاو د 1371 کال څخه تر 1380 کال پورې دوام وکړ او د چټک خو متمرکزه کر سره د چینوترڅیرمه په معینو ځاینو کې څرګند شوي ؤو. دریم پړاو د 1380 کال څخه مخکښې وکړه او ښایي هم د عمومي کر په څیر چې د اوبو د پیداښت د څرګنده ځایځایي طرحی سره تاکل کېده، توصیف کړای شي. دغه پړاو د 1385 کال د مني په موسم کې د یو ناڅاپي ودریدو چې د

[6] پنځه جریبه یو هکتار تشکیلوي.

[7] د بیلګې په توګه، په 1307 کال کې د غازي امان الله خان د پاچاهۍ سقوط په جلال آباد کې د شینوارو پښتنو قبایلو بلوا ته منسوبیږي. کله چې دغه قبایلو په پایتخت یرغل وکړ، د پاچا ډیرو ډلو ټپلو تیښته وکړه او د تاجک حبیب الله خان وفاداره ډلې کابل ته داخل شوی او هغه یې په پاچاهۍ وګماره. امان الله په 1308 کال کې د خپلې دندې څخه

ګوښه شو. لوویس دیوپری ته مراجعه وکړئ ، افغانستان، اکسفورډ، انګلستان: د اکسفورډ پوهنتون مطبعه، 1359م کال، 452مه پاڼه.

[8] ادم پین، د اوبولو تنظیمات، مالداري او د کوکنارو اقتصاد: د کوکنارو کر په کندز او بلخ کې، کابل: د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره، 1385 کال.

کوکنارو د کرکټور بندیز یې هم د ځان سره درلود، لامل وګرځید، چې د څلورم پړاو پیل یې په ګوته کړ. ددغه مختلفو پړاوونو په منځکې تحولات په زیاته اندازه د غیررسمي قدرت جوړښتونو پواسطه – چې په ټولنیز شکل ټاکل کېده، په نژادي ډول چې د څرګنده ځایځایې ابعادو پواسطه میشت کېده (د چینی ترڅیرمه یا د چینی لاندی)، او د انفرادي ځواکمنو ډلو سره یوځای حرکت کاوه. د کوکنارو د بازار مقررات، تکنالوژۍ او مهارتونو ته لاسرسي ټول د وخت په تیریدو سره د کوکنارو د کر د بڼه ورکولو په تغیر کې کړکېچن رولونه لوبولي دي.

د بلخ په ولایت کې د کوکنارو اقتصادي ګټې هم په مستقیم ډول – د زراعتي ځمکو د کارکونکو د عوایدو په زیاتوالي کې - او هم په غیر مستقیم ډول – د ځمکې د ډیر عواید چې د ډیرو تولیداتو د مطالبې لامل ګرځي، د پاملرنی وړ ګرځیدلې دي. هغه ګټه چې د ځمکو د څښتنو او کارکونکو پوری اړه لري د بیلابیلو عواملو له امله چې د ستر اهمیت لرونکي دي، په هرحال د ځمکو د مالکانو په ګټه تمامیږي. هغه درامد چې د ولسوالیو مامورینو ته د غیررسمي مالیاتو له درکه لاسته ورځي، خورا ډیر وي.

د دی ولایت د تاریخ په رڼا کې، د 1386 کال د کر په موسم کې د بلخ په ولایت کې کوم عوامل د کوکنارو د کر چټکه پریوتنه په ډاګه کوي؟ د کوکنارو ټیټ نرخ ښایې ددی محصول ترلی موثریت کم کړی وي، خو د سیمې څخه شواهد نرخ په زیاته اندازه د کوکنارو د کر د کمښت د ټاکونکي پحیث نه تاییدوي. که چیری دا یو فرضیه وي، نو باید د هغه سیمو په منځکې توپیر موجود وي چې د ډیرو اوبو لرونکې دي چیرته چې د محصول موثره ټاکنه وجود لري او د چینی لاندی د لږو اوبو لرونکې سیمې چیرته چې د بل محصول ټاکنه محدوده وي او د کوکنارو کر ډیرئ وخت یواځېنۍ لار د کر لپاره وي. پداسی حالکې چې د کوکنارو ټیټ نرخ د کوکنارو د کر د کمیدو لامل نشو، دا ښایې د کوکنارو په کر د بندیزونو منل وي.

د بلخ په ولایت کې ځینی خلک د کوکنارو په کر کې کموالې هغه کمپاین ته منسوبوي چې موخه یې د کوکنارو د نه کر د مدني پوهونې د کچې پورته وړل ؤو. په حقیقت کې دا راز کمپاین وجود درلود، خو په انکشافي کوښښونو یا د ریښه ایستنی موثق تهدید باندی یې تاکېد نه کاوه. له بله پلوه، دغه کمپاین د کوکنارو پواسطه د عوایدو د تولید اړتیا ټیټه نکړه او نه یې هم د کر خطر پورته یووړ. د کوکنارو د کر د کموالي لپاره ډیره احتمالي توضیح داده چې، د 1379 – 1380 کلونو په څیر د طالبانو د بندیز سره، کوم کسان چې فعلآ بندیزونه پلي او تحمیلوي یې د هغه کسانو په څیر دي چې د کوکنارو کر یې د بلخ په ولایت کې تر 1384 کال پوری کنترولاوه. څرنګه چې د کوکنارو قاچاق د ولایات ترمنځ خپلمنځي اړیکه لري، له دی پلوه هغوی اغیزمن قوت لري ترڅو د کوکنارو کر ته خاتمه ورکړي. څنګه چې هغه سوال ته چې د کوکنارو د کر مهالویش په ګوته کوي – چې ولې په 2006 – 07 زیږدیز کلونو کې واقع کېده او تر هغی دمخه نکېده – ځواب یې ښایي د کر په اقتصاد کې د تعدیل جوړښت، د وسایلو د اداری ستراټیژي، او په ممکن ډول د سیاسي حیثیت د تشکېل په بدلون کې یو اجرأت وي.

د دغه تحریکونو پایلې څه دي؟ هغه کسانو چې د لوړو امتیازاتو مقامونه لاسته کړي او منابع کنترولوي – هغه کسان چې د چینو څیرمی ته ځمکې لري او د دوه ځلي کر لپاره کافي اوبه لري او د سیاسي پلوه غښتلي هم دي – دا راز کسانو ته د کوکنارو د کر ټاکنه ډیر عواید وړاندې کوي. دغه کورنۍ د وتنې د پاموړ ستراتیژئ لري، هغوی د خپلو ښه منابعو په پانګه اچولو سره او بازار ته د لاسرسۍ سره د کوکنارو لپاره ښه لاری چاری لري. دغه ډول ستراټیژي د محصولاتو د بدلون (د بلخ په ولایت کې د ګیا په کر کې د ډیروالي شواهد وجود لري) د ځان سره لري یا غیرزراعتي فعالیتونو ته د تیرو پنځو کلونو د ګټی په پرتله بیله بڼه ورکوي. هرڅوکه ډیری کورنۍ د کمو ځمکې لرونکو او د چینو څیرمو ته میشت بی ځمکه کارکونکي او ډیرۍ کورنۍ چې د چینو لاندی څیرمو کې چې د سیاسي پلوه غښتلي ندي پدی مقام کې ندي ، او همدارنګه د ځمکه لرونکو او بی ځمکه کورنیو په څیر چې اوبو ته محدود لاسرسي لري. ددی ډول کورنیو لپاره کوم عاید چې د کوکنارو د منبع څخه ترلاسه کېږي ټاکنه نده بلکه یوه اړتیا او د هوساینی لپاره یوه وسیله ده او د کوکنارو د اقتصاد څخه وتنه هم ټاکنه نده بلکه د یو تحمیل شوي عمل زغمل دي چې د کورنیو په هوساینه د پاموړ منفي اغیزې لري. ددغه حالاتو پیژندل او ددغه کورنیو حالاتو ته په موثره توګه د ځواب ویلو لپاره، یو کوښښ چې د غیرمساواتو د جوړښت عامل او پایلی تر څیړنی لاندی ونیسي کوم چې د هغوی ژوند ته بڼه ورکوي ، بنسټ دی.

## غور: د خوړو کمښت ته یو ځواب[9]

د غور ولایت خپل د لری پرتو سیمو غرنیز اقتصاد ننداری ته وړاندی کوي. د محلي اوبو د چینو په شاوخوا کې استوګنه د - لږ تناسب سره ډیر شو په شو او فرصت لټوونکې ده نسبت دی ته چې د چینو د څیرمو په لور متراکم اوسي. د دغه ولایت زراعتي اقتصاد په زیاته اندازه د للمي محصولاتو د فزیکي لاسرسۍ او ګټورو فعالیتونو په برخه کې د موسمي خصوصیاتو معینول دي. په لوړه ارتفاع کې ډیرۍ محصولات خودرویه نباتات دي، او د اوبو لرونکو ځمکو څرګنده ویشنه د غنمو او ګیا ترمنځ توپیر په ګوته کوي څو د کورنیو او کورني څارویو د بقا لپاره د ژمي په موسم کې برابر کړای شي. د اوړي د موسم فعالیتونو څخه د تیلو او ګیا زیرمه کول دي چې د دوه څخه تر دریو میاشتو محنت ته اړتیا لري. د ژمي د نږدی کېدو سره د کوکنارو د کر پریکړه او د هغی د احتمالي بریا ستونځې د ژمي د موسم په موده کې د خوړو

[9] د ساحوي کار په اساس چې د مینسفیلد پواسطه په 1386 کال کې د غور په ولایت کې ترسره شو (ریوټ د افغانستان د څیړنې او ارزونې ادارې لخوا خپریږي)

د تحفظ د پاتې راتلو د خطر په اړه بحراني رول لوبوي. دا ټول ابعاد ددې لامل ګرځېدلي څو د غور ولایت د افغانستان یو د غریبو ولایاتو څخه اوسي، دا یو حقیقت دی چې په 1384 کال کې د ملي خطر او زیانرسیدنې د اټکل د معلوماتو د دفتر (NRVA) پواسطه راوړل شوی دی.

د 1386 کال د کوکنارو اټکل په افغانستان کې ریوټ ورکوي چې په 1385 کال کې د غور په ولایت کې د کوکنارو کر د 4679 هکتار مځکې څخه 1503 هکتار مځکې ته په 1386 کال کې پریوته. د سیمې څخه شواهد توصیه کوي چې حکومت د مخدره توکو پرضد د مبارزې په لړ کې ډېر لږ کوښښ کړی څو ددې ولایت د کوکنارو په کر کې لږوالی راوړي. پدې ولایت کې د کوکنارو د کچې د ټیټیدو لپاره لومړنې دلیل د تیرو څو کالو د کوکنارو د کر د پرلپسې ناکامیدل ؤو، په ګډون د ځینو سیمو چې د پنځو متعدده کلونو لپاره د دوه کیلو فی جریب حاصل تجربه کوي. د کوکنارو نرخ د غور په ولایت کې په 1385 کال کې تر 3000 او 3500 افغانیو فی کېلوګرام ته په 1386 کال کې پریوتو ته ادامه درلودله او د کوکنارو محدود سوداګر څرګندیدل څو د جنوب څخه د غور ولایت ته سفر وکړي – چې دا احتمال لري په هلمند ولایت کې د کوکنارو د خورا ډیر کر سبب وي. په پای کې، د غور په ولایت کې د هغه کورنیو لپاره چې مالداري او د غنمو د کر لپاره للمي مځکې لري، پس لدی د کوکنارو کر یو بریالی لارچار نده. د کورني څارویو پلورل او د هغی عاید ادامه لري څو د هغه کسانو لپاره چې توانیدلي خپلې رمې وساتي د عاید یوه مهمه چینه اوسي. د 1386 کال د ژمي په موسم کې د واورو درون وربښت لامل شو څو ډیرئ بزګران وکولای شي هم خپلې مځکې اوبه کړي او هم د للمي مځکو په مناسب حاصل ډاډمن اوسي. دغه بزګرانو د مالداری سره خپلې للمي مځکې په غنمو او د خپلو اوبه لرونکو مځکو ډیره برخه په ګیاهي محصولاتو وکرله. د غنمو د کمیت د زیاتوالي تجسس د ګیا د حاصل سره چې د ژمي د واورو د ښه وربښت په تعقیب راغی، بزګران یې په خپلو رمو کې د ښه پانګه اچونی په فرصت سمبال کړل. د کوکنارو په محصول د وسایلو او شتمنیو لګښت او د تیرو څو کالونو په اوږدو کې د هغی ضعیفه پایلې، په 1386 کال کې ډیرئ بزګران د کوکنارو کر پریښودو ته اړ باسل.

ځینی کورنی، په خاصه توګه هغه کورنی چې بی له مالداری او د پاموړ محدود للمي مځکې سره ژوند کوي، د کوکنارو د کر سره درید نه کړی. د کوکنارو د کر یا ایران ته د مهاجرت څخه علاوه، هغوی د خپلو لومړنیو اړتیاوو د برابرولو په موخه د نغدو پیسو د لاسته راوړلو لپاره محدودی لاری لري. د عاید د چینې په څیر د هغوی د اټکا درجه په کوکنارو باندی، د کوکنارو د کم حاصل او د کوکنارو د نرخ د پرلپسې پریوتنې سره سره د کوکنارو کر د هغوی د بحث وړ ګرځي.

د 1386 کال د کر په موسم کې، د غور په ولایت کې د کوکنارو کر یو ځل بیا د کم حاصل او د یو کېلو ګرام فی جریب سره ناکام شو. بزګران یوازې د دوه ځلې نیشتر وهلو څخه وروسته لیدل کېده چې خپل کوکنار – د دری یا څلور ځلو عادي نیشتر وهلو په پرتله غونډ کړي – ریوت ورکول کېږي چې د کوکنارو غوزې نور د شیره ورکولو وړ نوي. ډیرئ ددی کورنیو څخه په هغه پیسو باندی چې په ایران کې د مهاجر کارګرو څخه لاسته راتللی متکي وی، او د ایران څخه د افغاني کارګرانو د ایستلو سره لاډیر د عوایدو د نشتوالي سره مخ کېږي او هغه کسان چې کوښښ کوي څو د افغانستان در سرحداتو څخه ایران ته واوړي، د ډیرو ستونځو سره مخ کېږي. د 1386 کال د دوبي په موسم کې د غور په ډیرو درو کې بارانونه محدود ؤو چې بزګران یې د غنمو د لږ حاصل اټکل ته راکاږي. د غنمو کموالي باید د څارویو په پلورلو برابر کړای شي، خو کله چې ډیرئ بزګران د خپل څارویو په خرڅلاو لاس پوری کړي، د څارویو نرخونه هم احتمال لري چې سقوط وکړي. که چیری هغه عاید چې د څارویو د خرڅلاو څخه لاسته راځي د کورني اړتیاؤو د برابرلو لپاره کافي وي، نو بیا دغه بزګران اړ دي څو نوری لاری وپلټي. دا په مختصر ډول د هغه پړاو پیل دی چې د غور ولایت په ځینو برخو کې د کوکنارو په کر کې زیاتوالي ته لار باسي کوم چې د 1370می لسیزی په منځ او وروستیو وچکالیو کې رامنځته شو.

بزګران د غور په ولایت کې لادمخه خپله اندیښنه د امنیتي حالت د بدتریدو په هکله څرګندوي. د سیمې څخه شواهد څرګندوي چې د تاوتریخوالي، تیریو او د وسله والي ډله ایزې غلا په پیښنو کې زیاتوالي ښایي، د چغچران ولایت د مرکز څیرمی ته درو کې د وسله واله خلکو شتون او د "طالبانو راتلونکي احتمالي حمله په دولت باندی" د ناارامی د احساس په ډیریدو کې زیاتوالی راوړی. د ایران څخه د افغان مهاجر کارکونکو ایستنه، د څارویو د نرخونو ټیټیدنه او د کوکنارو د محصول ناکامیدل د روحي فشار په درک او د هغه حکومت څخه چې د غور په ولایت کې حاکم دی بیزاریدنه کې زیاتوالی راوړی.

## بدخشان: د مخدره توکو پرضد کوښښونه ناارامی ته شدت ورکوي[10]

د بدخشان ولایت د افغانستان یو د سترو ولایاتو څخه دی، او د کوکنارو د کر یو طولاني تاریخ لري. دغه ولایت د هیواد په شمالشرقي لور کې پروت دی، چې لوړ غرونه او د ژورو سیندونو درې لري، او د تاریخ له پلوه د اوږدی مودی لپاره د هیواد د نورو برخو څخه جلا ؤو. په تیرو زمانو کې ددغه ولایت د غرنیزو سیمو نفوس خپله غله د موسمي کار یا د څارویو په پلورلو سره لاسته راوړله. په لاندی پرتو سیمو کې د غلی اړتیاوی د کوکنارو د تولید او د هغې خرڅلاو، د څارویو د خرڅلاو یا د لاسي مزدوری پواسطه برابریده.

---

10. ډیوید مینسفیلد، حکومتداري، امنیت او اقتصادي پرمختګ: د بدخشان ولایت د جرم او بهارک په ولسوالیو کې د کوکنارو د کر پریکړه کونکې لامل. کابل: د آغاخان انکشافي شبکه، 1386 کال د فبروري میاشت.

د بدخشان په ولایت کې د 1386 کال د کر په موسم کې د محصولاتو ګټور حاصل د کوکنارو د کر په خلاف توطیه کوله. په مځکو کې ټیټ نرخونه، په 1386 کال کې ناګهانې حاصل او د کارکونکو د مزدورۍ لوړ نرخ لامل وګرځید څو کر په 1385 کال کې د قابو 13056 هکتار څخه په 1385 کال کې 3642 هکتار ته په 1386 کال کې پریوت.[11] د کار ستونځمن حالت د زیان رسیدونکي حالت ټکي ته ادامه لري، هغه محصولات چې د پامور وسایلو ته اړتیا نلري، کولای شي د کارد نرخونو د زیاتوالي په کچه کې خالص درامد تولید کړي، د کوکنارو د ګټور کر د څارویو د نرخونو د ودی او د کوکنارو څخه علاوه بل محصول، د ترانسپورت ټیټ مصرف او د کار نښه فرصتونه د هغه کورنیو د غړو لپاره چې نور یې اړتیا نه درلودله څو د کوکنارو په محصولاتو کار وکړي، ننګونه ده. په پایله کې، په 1385 کال کې د 5 څخه تر 10 فیصده کرل شوی مځکه د جرم او بهارک ولسوالیو په مرکزي سیمو کې د کوکنارو کر ته اختصاص شوی وی. په هرحال، په لوړو مرتفع–غرنیزو درو کې کر باقي پاتی شو.

نباید وویل شي چې ولایتي مقاماتو د کوکنارو د کر په کموالي کې برخه ندده اخیستې. د سیمه ایز کار په بهیر کې د ډیرو خلکو سره مرکه ترسره شوه چې د دولتي او سیمه ایزو مقاماتو د مخدره توکو پرضد د مبارزې د کوښښونو څخه خبر ؤو. د مخدره توکو پرضد د مبارزې د پیغامونو رپوټونه چې د رادیو او سیمه ایز جماعتونو لخوا خپریدل شتون لره، او همدارنګه د مخدره توکو پرضد د کمپاینونو شواهد د بهارک او جرم ولسوالیو په بازارونو کې هم وجود درلود. په 1385 کال کې په سیمه کې د ریښه ایستنې قواوی څرګندیدی، که څه هم دا پداسی حالکې دی چې د مني د کر موسم پدی ولسوالیو کې پای ته رسیدلی ؤو. هرڅوکه ددغه سیمو خلکو ډیر مهال د مخدره توکو پرضد د مبارزې کوښښونه لیدلي چې د غوره قانون ماتونکو د اعمالو پواسطه په هر ولسوالۍ کې د پلي کېدو څخه جلا نه ؤو.

د جرم او بهارک ولسوالیو څخه یوه نږدی کتنه څرګندوي چې څه ډول ګڼ شمیر عوامل د کوکنارو د کر کچې تر اغیزی لاندی راوړي. د جرم په ولسوالۍ کې، د کوکنارو اقتصاد هغه مرکزي ټکي دی چې تر شاوخوا یې قومندانان د سیاسي او اقتصادي حاکمیت لپاره مبارزه کوي. قومندانان ښایي بزګران اړ باسي څو کوکنار ونکري یا د بزګرانو محصولات په بشپړ ډول لمنځه یوسي، له بله پلوه، هغوی د کوکنارو د تحفظ په موخه په هغه سیمو کې چې هغوی خپل سیاسي او نظامي ملاتړ تر لاسه کوي د خپل ځواک څخه استفاده وکړي. په سیمه ییز دولتي مهمو مقامونو باندی کنترول په خاصه توګه د ولسوالۍ د پولیسو قومندانې د سیاسي او مالي ځواک د کونجي په څیر په سیمه کې لیدل کېږي.

د هغه کسانو لپاره چې رسمي منصب نلري، په جرمونو کې دخالت د یو دوه اړخیز عمل څخه ګڼه اخستل دي چې د مالي ګټی لاسته راوړل او په سیمه ایزه ټولنه کې د هغه حس ترویجول دي چې حکومت نشي کولای د هغو څخه حفاظت وکړي. د غلا او فساد پیښې لکه اجبار او د دولتي او غیردولتي لوبغاړو پواسطه ویره اچونه، د بې حده ناامنۍ زمینه منځته راوړی ده. پدا ډول چاپیریال کې د مخدره توکو پرضد د مبارزې کوښښونه اوس هم د یو نامنظمه "د قانون د قاعدی" د پلي کولو د بیلګې په څیر لیدل کېږي چې د ځواکمنو پلوي کوي او بې وځله طبقه لاندی کوي. د ریښه ایستنې کوښښونه یواځې د شتمنو لپاره د یو مکانیزم په څیر چې د غریبې طبقې ملکیت خپل کړي او هغه واک تر کنټرول لاندی راوړي چې په سوداګرۍ کې ډیری ګټې او د پراونو لړۍ ته اجازه ورکوي. کلیوال خلک خپل ځانونه د بې کسه او بیوځله لیدونکو په څیر یا د سیاسي فساد د قربانیانو په څیر ګڼي، چې پدی ډول سیمه ایز قومندانان په کابل کې د مقاماتو پواسطه "ساتل" کېږي، چې دا د ملي، ولایتي او سیمه ایز حکومت بنسټ ته زیان رسوي. تر څو چې دا حالت منحل نشي، امکان لري د جرم په ولسوالۍ کې ناارامي لابدتره کړي چې سیمه ایز اقتصاد او د کوکنارو د کر د کچو د لوړوالي احتمال په 1386 کال کې تر اغیزې لاندې راوړي. کوم وضعیت چې د بهارک ولسوالۍ په مرکز کې وجود لري قابو کتمې د جرم د ولسوالۍ په پرتله یوشان دی. دا هغه حالت دی چې غوره قومندانان د دولت په منځکې ګډ شویدي یا په څرګند ډول لیدل شوي چې د مرکزي دولت د پالیسیو څخه ملاتړ کوي. سیمه ایز اقتصاد پرلپسی ښه عمل کوي هرڅوکه کوم رکود چې د ولسوالۍ په داخل او هم نورو ځایونو کې د کوکنارو د کر احتمالي کموالې ازمایلي دي، د بهارک ولسوالۍ په موقعیت او ډول ډول اقتصادي فشار شدت کې کموالې راوړی دی. د بهارک ولسوالۍ چې د فیض آباد او عشکشیم تر منځ د منځني سرک په اوږدو پرته ده، د کابل، مزار او تاجکستان ترمنځ متعدده سوداګریز فرصتونو ته لاسرسی لري. په مشروع اقتصاد کې پانګه اچونه چې په تیرو کلونو کې د کوکنارو په کر کې ترسره کېده، د اسهامو مالیه تادیه کوي. د مشروع اقتصاد پرمختګ - ټولنیز او اقتصادي بیلابیلو ډلو ته چې د منځني سرک په اوږدو کې میشت دي، د ولسوالۍ په مرکز کې ګټه رسوي. کرنیز مهم محصولات په کرونده کې ښه نرخونه غوره کوي او راکړه ورکړه په ښه

[11]. د مخدره توکو او جرمونو پرضد د مبارزې لپاره د ملګرو ملتونو دفتر/د مخدره توکو پرضد د مبارزې وزارت، د افغانستان د 1386 کال د کوکنارو سروې: اجرایوي لنډیز (1386 کال)، 5 مه پاڼه.

ډول ترسره کېږي په سوداګرۍ کې پرمختګ او د کار موندلو فرصتونه دا جوتوي چې کوم کسان چې مځکه نلري او یا لږه مځکه لري څو خپل لومړنۍ اړتیاوې ترلاسه کړي، کولای شي د کوکنارو د کر په نشتوالي کې یو بل کسب لکه د مځکې اجاره کونکو په څیر وموندي.

د بدخشان د ولایت څخه شواهد ښکاره کوي چې د اقتصاد د پرمختګ دغه سمون او د امنیت یوه اندازه چې د کوکنارو د کر په کموالي کې اسانتیاوې راوړي سره یوځای کوي، او ورسته بیا ګټې حتی د ولسوالۍ په چارچاپیر کې نه ویشل کېږي. د جرم د ولسوالۍ په مرکز کې د دغه لاسته راوړنې په جوتولو سره تاییدوي چې چیرته چې یو نا امنه رژیم حاکم او په معیشت کې پرمختګ غایب شي، د مخدره توکو پرضد مبارزه په ځانګړې توګه د سیمه ایز قومندانانو سیاسي او مالي ځواک مذبوتوي. دغه انحراف کولای شي هغه کوښښونو ته زیان ورسوي چې د کوکنارو د کر تلپاتې کموالي په ګوته کوي. د جرم د ولسوالۍ په څیر سیمو کې یو ریښتني خطر وجود لري چې سیاسي دوران د کوکنارو د لنډمهاله کر لپاره کولای شي د هغه کوښښونو بنسټ ته زیان ورسوي چې د اوږدمهاله لاسته راوړونو د بریالیتوب لپاره په لاره اچول کېږي. دا ډول چاپیریال ډېرې پاملرنې ته اړتیا لري څو د نا امنۍ رژیم وټکوي او اقتصادي پرمختګ ته پراختیا ورکړي، او د ریښه ایستنې څخه تر هغه وخته لاس واخستل شي څو چې د کوکنارو د کر څخه وتل د بزګرانو لپاره یوه بریالۍ لاره نه وي.

## 3. د هغه پالیسي په لور چې شواهد د ځان سره لري

دری هغه موضوعات چې د دی مختلفو قضیو د څېړنې پواسطه په مخ وړل کېږي، عبارت دي له: لومړي، د ستری نا امنۍ شرایط چې د افغانستان بېوځله کورنۍ په دغه شرایطو کې هوساینه لټوي چې یا یې ترلاسه کوي او – یا په حاصلیدو یې نه بریالي کېږي.[12] دویم: د کوکنارو د کر رول د کورنیو سره په مرسته کې څو کورنۍ وکولای شي کومه هوساینه چې د نا امنه شرایطو لاندی ده ترلاسه کړي، او دریم: هغه کرکېچن رول دی چې غوره ځواکمن دواړه د وکیل او موکل په څیر د کوکنارو د کر په "دلالۍ" کې او د هغې په کنټرول کې د بهرنیو عاملینو سره د معاملو او د خپلو ملاتړ کونکو سره د سمون په موخه ترسره کوي. مونږ په دغه دریو قضیو کې استدلال کوو چې دغه مسایل باید د یو پالیسۍ په ښه متمرکز اوسي چې د مخدره توکو د مبارزې د شواهدو پواسطه پرمخ ویوړل شي. دا د اوسنی پالیسۍ د مختلفو حالاتو په مقابل اودریږي چې ډېرمهال د هغه شواهدو په لټه کې وي چې فرضیات ډېر تاییدوي نسبت دی ته چې هغه تر څېړنې لاندی ونیسي، ویې ازمایي یا یې وپوښتي.

### په افغانستان کې "د امنیت د غیررسمي رژیم" پېژندل

د افغانستان په ځینو برخو کې چیرته چې حکومت کمزوری دی یا شتون نلري، راکړه ورکړه لږه شوی ده یا نامؤثره رسمي مقررات لري، پدغه سیمو کې یو داسی چاپیریال شتون لري چې خصوصیات یې د احتمالي شدید او نامعلومه خطر پواسطه څرګندیږي. حکومت نشي کولای وګړي خوندي وساتي او ښایي هم یو دلیل یې د خلکو تحفظ د هغه مامورینو د اعمالو پواسطه اوسي چې د شخصي ګټو په لټه کې دي. پدغه سیمو کې راکړه ورکړه د غوره ځواکمنو پواسطه په غیررسمي توګه تنظیمیږي چې دا خپله د حکومت د کمزورۍ لپاره چینه یا سترخطر دی.[13] د ډېرو کورنیو لپاره د امنیت او هوساینې پلټنه له هر شی څخه غوره ده او هغوی اړ دي څو دغه مبارزه د ټولنې د موجوده غیررسمي ارګانونو پواسطه ترلاسه کړي. د دغه راز " د امنیت د غیررسمي رژیمونو"[14] خصوصیات د خان – رعیتي د ژورو اغیزمنو اړیکو د شتون پواسطه چې د ټینګو مراتبو د سلسلو له امله منځته راځي، څرګندیږي. پداسی حال کې چې دا ښایي د نامنظمه حقوقو او غیررسمي امنیت چې هغوی د بېوځله طبقې لپاره اړتیا لري او یوه معامله چې د هغې پواسطه لنډ ـ مهاله امنیت د اوږد – مهاله تړاو او زیانرسیدنې لپاره تبادله کېږي، لامل وګرځوي. د حکومت په منځکې مجهوله سرحدونه – چیرته چې مامورین کولای شي خپل منصب د خپلو شخصي ګټو د پراخوالي په موخه استعمال کړي شتون لري – او خصوصي ډلې چې غیررسمی د رسمي سره یوځای کوي، څو خلکو او ټولونو ته د ښه فرصتونو په برابرولو سره ترقي وکړي او په مارکېټ یا حکومت کې خپل شخصي ګټې خوندي وساتي، او پدی ډول خپل موقف ترلاسه او ټینګ کړي او د خپلو موکلینو ملاتړ ته تقویت ورکړي.

---

[12] د Gough and Wood په تعقیب، " نړیوالي ټولنیزي پالیسۍ ته د هوساینې مقایسوي رژیم نړدیوالې"، نړیوال پرمختګ 32 (1385)، د "هوساینې" شرایط یعنې د نیکمرغۍ د پراخو ابعادو لاسته راوړنه چې د فقر د عوایدو مقیاس په حاصلیدو کې پاتې راځي

[13] سارا لیسټر او ادم پېن، راکړه ورکړه په قدرت کې: د آزاد مارکیټ سیاست په افغانستان کې، کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، 1383 کال

[14] Gough and Wood ته مراجعه وکړئ !

په خطر کې ښکېلېدل او د خطر څخه د وتلو د وسیلې نشتوالی، د غربت د دوام لپاره او فقر ته د ښکېلېدو د دامونو د منځته راوړلو اساسي دلایل دي.[15] د خطر احتمال کورنۍ اړباسي څو د هغه فرصتونو څخه چې هغوی ته د فقر څخه د وتلو د لارو وړاندیز کوي، مخنیوې وشي. پدی زمینه کې د خطر احتمال نسبت کوواریانت (تړلې) او بشري خصوصیات (چې کورنیو پوری معین دي) لاډیر واضیح کوي، چې د وچکالۍ د احتمالي خطر، د نرخونو د بدلون له امله د وبا د مرض پیل یا د کورنیو ترمنځ مرګ او میر منځته راوړي. د بیلګې پډول، د بلخ په ولایت کې د خطر احتمال د غیررسمي رژیم په زمینه کې باید تشکېلاتي ابعاد او استبدادي او بی مسولیته ځواک چې ټولنیز او اقتصادي نامساواتو پوری اړه لري، وپیژندل شي.

## د غریبې طبقې لپاره د غیررسمي امنیت په برابرولو کې د کوکنارو رول

په معیشت کې شدید تزلزل چې د بلخ په ولایت کې د کورنیو لخوا تجربه شوی، د بدخشان ولایت د جرم په ولسوالۍ کې د کوکنارو کرونډه ګر، ننګرهاریان او د غور په ولایت کې د کوکنارو کرونده ګر په افغاستان کې د کوکنارو د کر رول په ډاګه کوي. د خوړو د نشتوالي د خطر په کمولو سره او مځکو او اعتبار ته د لاسرسي په تامینولو سره، د کوکنارو کر یوه حیاتي وسیله ده چې غریب وګړي یې پدغه سیمو کې پدی قادر کړي څو د خطر احتمال اداره او منابعو ته لاسرسې ترلاسه کړي، څوخپل حتمي شتون ډاډمن کړي. پداسی حالکې چې کوکنار د افغانستان په ډیرئ سیمو کې او د بیلابیله ټولنیز او اقتصادي ډلو پواسطه کرل شوي دي، چې دا امکان لري په هغه سیمو کې متمرکز اوسي چې اوبه لرونکو مځکو ته محدوده لاسرسي ولري، ډیر ګڼ نفوس او زراعتي او غیرزراعتي محدوده فرصتونه ولري[16] – یا چیرته چې ناامني انتها ته رسیدلې وي. د لږې مځکې لرل د ډیرو وګړو/مځکې (د خلکو شمیر د في جریب په تناسب) په تناسب سره، د غنمو کر کولای شي د کورنیو لپاره یوازې د دوو څخه تر دریو میاشتو غله برابره کړي.[17] سربیره پردی چې د پرمختګ وړ غیرزراعتي فرصتونو باندی محدودیتونه لګیدلي، د محصولاتو لپاره هغه لاری چې کولای شي د خوړو تحفظ د نغدو پیسو پواسطه برابر کړي، هم محدودی دي. سبزي او میوې هم د غنمو په څیر د اوبو د کموالي له امله زیان رسیدونکي دي، او د ټولو مناسبو وسایلو راکړه ورکړه په پراخه توګه غیررسمي مقرراتو پوری اړه لري چې غریبي طبقې ته یې د احتمالي خطر منبع پاتي کېږي.

د دغو شرایطو په رڼا کې، د کوکنارو د کر لوړې کچې د هغه بیلابیلو فرصتونو کموالې منعکس کوي چې په زراعتي، غیرزراعتي او بې مځکه عوایدو کې موجود دي. کوکنار د غریبې طبقې لپاره یو په زړه پوری محصول دې، ځکه چې دا یو بې خطره محصول د چاپیریال لپاره ستر خطر دی، نه پدیخاطر چې هغوی ته اجازه ورکوي څو خپل اقتصادي عواید اعظمي حد ته ورسوي. ځینې محصولات ـ په ځانګړي توګه یوه برخه د ګډ محصولاتي سیستم او د غیرزراعتي فرصتونو پوری مربوطولای شي چې د کوکنارو سره سیالي وکړي کله چې د کوکنارو نرخونه ټیټ شي، خو هیڅ یو محصول نشي کولای د کوکنارو په څیر کېفي ځانګرتیاوی وړاندی کړي، چې: د نسبي وچکالي سره مقاومت وکړي، یو نه خرابیدونکی محصول، یو قابو تضمین شوی مارکېټ او سوداګر چې د راتلونکي محصول لپاره د وړاندی څخه د پیسو وړاندیز کوي ځان سره لري.

د کوکنارو په شتون او نشتوالي کې، غیررسمي اعتبار ته لاسرسي د کلیوالو غریبو کورنیو د یقیني شتون یو اساسي برخه ده.[18] په ټول افغانستان کې اعتبار ته اړتیا پرته د کوکنارو د کر څخه نفوذ کوونکې ده، او د کورني لګښت د اړتیا لمخې چې د پور په اخستلو سره سمبالیږي څو ډاډمن کړي چې کورنۍ کولای شي خپل کموالي د خوړو په تامینولو سره برابر کړي. اعتبار دواړه د غیررسمي امنیت د شبکې د ساتلو پراخ ټولنیز او د کورني لګښت د تامینولو او د ژوندي پاتې کېدو د اړتیاوو رول پرلپسې عملي کوي. کومې کورنۍ چې کوکنار کري ډیرمهال نسبت هغه کسانو ته چې کوکنار نه کري ډیر " د اعتبار وړ" وي. د بیلګې پډول، د 1385 کال د کر په موسم کې د افغانستان په ډیرو برخو کې کومو کورنیو چې کوکنار کرلي ؤو، کولای شوو چې یو شمیر مختلف وسایل د خوړو، دارو درمل او کالیو په ګډون په قرض ترلاسه کړي، پداسی حال کې چې هغه کسانو چې د کوکنارو د کر څخه ډډه کړې وه، لدې کبله چې هغوی د پور د بیرته تادیې لپاره کومه وسیله نه درلودله، هغوی ته د پور ورکولو څخه ډډه کېده.[19] پدی ترتیب، د کوکنارو کر خواړه او صحت خوندي ساته. همداډول د سیمې نوي شواهد د بدخشان د ولایت څخه د کوکنارو د کر رول د کورني مصرف د اړتیاوو برابرول او غیررسمي پور ته د لاسرسۍ په اړتیا کې کموالي ته اشاره کوي.[20]

په هغه زمینه کې چې کوکنار موجود دي، کوم کسان چې هغه کري د خپل راتلونکي حاصل لپاره په ثابت ډول پیشکي ګټې ته لاسرسې پیدا کوي. پداسی حالکې چې دغه پیشکي مفاد چې "سلم" نومیږي کېدای شي د نورو

---

[15] ستیفن دیرکون، زیانرسیدنه: یوه کوچنۍ انځور پوهنه، اکسفورډ، انګلستان: د اکسفورډ پوهنتون، 1385 کال.

[16] د بیلګې په ډول د 1385 کال دیوید مینسفیلد ته مراجعه وکړئ.

[17] مینسفیلد 1385 کال.

[18] جو ګریس او ادم پین، د کلیوال معیشت بیا څېړنه په افغانستان کې، کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، 1383 کال. فلورتجی کلیجن او ادم پین، د پیسو موندنه: د افغانستان په کلیو کې د غیررسمي اعتبارتګلاری، کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، 1386 کال.

[19] مینسفیلد 1385 کال.

[20] ادم پین، په غیررسمي پور کې د کوکنارو ونډه، کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، د دی څېړنې رپوټ په 1386 کال کې خپریږي.

زراعتي محصولاتو لکه غنم یا توره زیرې څخه ترلاسه شي. کوکنار هغه محصول دی چې د ډېرو پور ورکونکو د علاقې وړ ګرځي. که څه هم اکثره کورنۍ چې کوکنار کري ښایي ددغه سیستم څخه ډېره استفاده وکړي. د منابعو کموالې ډېرمهال لامل ګرځي څو هغوی خپل حاصل د لو څخه د مخه په ټیټه بیه وپلوري. دغه سیستم اجازه ورکوي څو د موجودو محصولاتو لکه د خوړو، کالیو او زراعتي لوازمو خرڅلاو نرخونه د مخه اټکل شي. مګر په مجموعي ډول د موسم څخه د مخه د خرڅلاو نرخ ټیټېږي.

کوکنار هغه محصول دی چې خلک ورته ډېره اړتیا لري، د کوکنارو کر هغه خلکو ته چې مځکې نلري د کښت او کر زمینه مساعده وي، همدارنګه هغه کسان چې د مځکو څښتن دي څو خپلې اړتیاوې د دی لاری برابری کړي. دا په بنیادي ډول، د کارکونکو د لاډېر غوښتنې ددی محصول په هکله او اقتصادي مفاد د هغه خلکو لپاره چې ډېرې مځکې لري، نورو بزګرانو ته د شراکت یا د اجارې په توګه ورکول کېږي. که چیری دغه مځکې د نورو محصولاتو د کر لپاره په کار وړل کېدای چې خلک ورته لږه اړتیا لري، نو هغوی به نور د شراکت یا اجاری لپاره تیار نه وای بلکه مځکه لرونکو کولای شوو چې پخپله د خپل کورنې کارکونکو پواسطه یې وکري یا د هغه کارکونکو پواسطه یې وکري چې په لږه باړه کار کوي.

هغه مځکه لرونکي چې غواړي مځکې یې په شراکت ډول په کوکنارو وکرل شي اکثراً هغه کسانو ته ترجیح ورکوي چې د کوکنارو په کر کې تجربه ولري. د لاندی تدابیرو له مخې، مځکه لرونکي معمولاً نیم یا د محصول دوه د دریو برخو څخه لاسته راوړي پداسی حالکې چې تر 80 فیصده د محصول لګښت په ګډون د کارګرانو باړه د بزګرانو لخوا ترسره کېږي. په کومو سیمو کې چې مځکې په کرایه ورکول کېږي، هغه رضا کاره بزګرانو ته هم ترجیح ورکول کېږي چې د کوکنارو کر ته تیار وي ځکه چې هغوی ډېره کرایه تادیه کوي.[21] د کوکنارو کر د شراکت یا اجارې پهډول هغه کسانو ته چې مځکه نلري زمینه برابره کړې څو هغې ته لاسرسي ومومي او زراعتي عواید ډېر کړي. دا پدی معنا ده چې هغوی کولای شي د خوراکي محصولاتو په کر کې هم خپل مستقیم استحقاق ډېر کړي، نه یوازې د کوکنارو په کر کې د هغوی د شتمنۍ په څېر.

د ټولو څخه مهمه دا چې د کوکنارو قاچاق وړونکي د کوکنارو د پیریدلو لپاره مځکو ته ځي. هغوی د ترانسپورت لګښت په غاړه اخلي

[21] دیوید مینسفیلد، "په افغانستان کې د کوکنارو په کر کې د توپیر ننګونې ته ځواب وینه" ، په دي. بدنبرګ او ډبلیو. بایرډ (یدس) د افغانستان د مخدره توکو صنعت: جوړښت، فعالیت، تحریکونه او د مخدره توکو پرضد پالیسۍ باندې د هغې اغیزې، کابل: د مخدره توکو او جرمونو پرضد د مبارزې لپاره د ملګرو ملتونو دفتر/نړیوال بانک، 1385 کال.

او هغه کسانو ته چې د تلاشي په نوم په پاټکونو کې وي بډې ورکوي او همدارنګه هغوی په ناامنه سیمو کې د سفر فزیکي خطر هم په غاړه اخلي. په دغه سیمو کې سوداګر قانوني محصولات په مځکو کې نه اخلي او ناشونی ده چې هغه محصولاتو ته چې امکان لري د ترافیکي بندیز او یا جګړی له امله متضرر شی د وړاندی څخه د پیسو وړاندیز وکړي. د امنیت کموالې سفرونه او سوداګري کموي، هرڅوکه ترانسپورتي مصارف پورته تلي او د فزیکي امنیت تشویش هم زیاتیږي. په حقیقت کې داسی شواهد موجود دي چې د هلمند په ولایت کې ښکاره کوي چې د تلاشۍ شمیر زیات شوی، چې پدغه ځایونو کې ملي پولیس، ملي اردو او یاغیان د هغه کسانو څخه چې د سرک څخه استفاده کوي مالیه اخلي، چې دغه کړه وړه د قانوني محصولاتو تولید نا مقایسه کوي.[22]

پدغه چاپیریال کې، د کوکنارو محصول لوړ نرخ او ټیټ وزن وړاندی کوي، لدی کبله سوداګر اوس هم علاقه لري څو مځکو ته ولاړشي او وایخلي. او که چیری امنیتي شرایط کړکېچن شي هغوی کولای شي هغه د یو کورنۍ پواسطه انتقال ورکړي. د امنیت نشتوالې، کورنیو ته هغه حس پېداګه کوي چې هغوی دی نور محصولات وکري حتی په هغه سیمو کې چې ظرفیت یې هم موجود وي. په حقیقت کې، په هغه سیمو کې لکه د هلمند یا کندهار ولایت چې ددی ولایتونو د نیم څخه ډېری سیمې د ډېرو اوبو او ښه خاوری اسانتیاوی لري، او ډېری بزګران چې ولایتي بازارونو ته نږدی میشت دي د کر په اټکل کې نسبت د ناامنۍ شتون ته د لږ اهمیت څخه برخه من دي. د افغانستان لپاره د مخدره توکو پرضد د مبارزې یوه ګټوره ستراټیژي باید د معیشت د ناخوندیتوب او د اقتصادي او ټولنیز فزیکي چاپیریال تر منځ اړیکې پېداګه او د پاملرنې وړ وګرځوي.

لنډه دا چې، غربت او کوکنار په بنیادی ډول یودبل سره تړاو لري. د افغانستان د کلیوالو غریبو کورنیو لپاره د کوکنارو کر نه یوازې د عاید پخاطر دی بلکې د احتمالي خطر د اداري په موخه او هغه منابعو ته د لاسرسۍ له کبله دی چې د غیررسمي شرایطو لاندی اداره کېږي. پدی زمینه کې د کوکنارو د کر په وده کې "حرص" ته ترجیحات د بنیادي دلیل په څیر په عمومی ډول ظاهر شوي ندي.[23] هغه نیوکې چې بزګران په جنوبي ولایاتو کې شتمن دي او د

[22] "د لیکونکي خبرې اترې د هلمند ولایت چارواکو سره، 1386 کال.

[23] په افغانستان کې د کوکنارو کر نور د فقر سره یوځای ندی–کټمټ مخالف. هلمند، کندهار او دری نور ولایتونه په جنوب لور کې چې کوکنار پکې کرل کیږي تر ټولو ولایتونو څخه شتمن او ډیر ایبرور دي، په تیرو کلونو کې د ملت حاصلخیزه سیمې او د شتمنۍ اساسي منبع وه. هغوی اوس د کوکنارو نامشروع سوداګرۍ ته بیحده ترجیح ورکوي، پداسی حالکې چې په شمالي غریب زون کې د کوکنارو په محصولاتو بندیزونه لګول کیږي." د مخدره توکو او جرمونو پرضد د مبارزې لپاره د ملګرو ملتونو دفتر/د مخدره توکو پرضد وزارت، څلورمه پاڼه. همدارنګه" دا باید په نښه شي چې په هلمند کې 75 فیصده د کوکنارو کر نوی کښت دی کوم چې دوه کاله پخوا شتون نه درلود. د هلمند په ولایت کې دغه 75 فیصده د کوکنارو کر د غریبو بزګرانو پواسطه نه کرل کیږي کوم چې د مشروع اقتصاد لپاره لږې لارچاری لري–دوه کاله د مخه دغه بزګران په نورو

کوکنارو د کر څخه پرته نوری لاری هم لري، هغه معلومات نه تصديقوي چې په لاس کې دي. کورني معلومات چې د افغانستان د مرکزی احصايي د دفتر پواسطه په 1383 کال کې برابر شوي او د ملي زيانرسيدنې او خطر د ارزونې دفتر لخوا په 1384کال کې راغونډ شوي دي، جنوبي ولايتونه يې پرلپسی د اقتصادي او ټولنيز پرمختګ په برخه کې ټيټ درجه بندي کړي. د 34 ولاياتو د ډلې څخه په ترتيب د هلمند ولايت شپږم، کندهار پنځلسم، ارزګان دوه ديرشم، او ذابل دريد يرشم په صف کې قرار لري. په شمال کې دغه لاندی اووه ولايته لوړ درجه بندي شويدي: جوزجان لومړی، بلخ نهم، بغلان يوولسم، سمنګان ديارلسم، باميان اتلسم، فارياب پنځويشتم او سرپل يوديرشم دي.[24] دغه د ولاياتو درجه بندي هغه ادعاوی نه ثابتوي چې ګويا بزګران په جنوب لور کې خورا ډير شتمن دي نسبت هغه بزګرانو ته چې د هيواد په نورو برخو کې اوسيږي. برسيره پردی، په 1384 کال کې د هلمند ولايت د 6 کلن څخه تر 13 کلن ماشومانو د ښوونځيو لپاره د نوم ليکنې بدترين بيلانس لري چې دا په هيواد کې د بيسوادۍ د يوی ستری درجې رپوټ ورکوي.[25] په جنوب لور کې د شديده بحران سره دغه شاخصونه احتمال لري د معلوماتو د غونډولو څخه دوه کاله وروسته کمښت موندلې وي.

د مخدره توکو او جرمونو پرضد د مبارزې لپاره د ملګرو ملتونو دفتر او د مخدره توکو پرضد د مبارزې وزارت ادعا چې هغه بزګران چې په جنوب لور کې کوکنار کري کمزوري ندي، ښايي دا د هغه موندنو لامل وي چې پدغه ولاياتو کې د کورنيو د عايد د اوسط په هکله چې (دالر 3316 د کوکنارو په کر کې او دالر2480 په نورو مسايلو کې) د مخدره توکو او جرمونو پرضد د مبارزې لپاره د ملګرو ملتونو د دفتر سروی کونکو ته ډير رپوټ[26] ورکړل شوی وي، نسبت هغه کسانو ته چې په شمال کې (دالر2690 د کوکنارو په کر کې او دالر1851 په نورو مسايلو کې) يا مرکزي (دالر1897 د کوکنارو د کر په وده کې او دالر 1487 په نورو مسايلو کې) اټکل کېږي. که دغه ارقام په تصور کې وساتو، هغه حريصې کورنۍ چې په جنوب لور کې کوکنار کري، ورځنې دالر9 عايد به ولري نسبت غريبې خو نجيبې کورنيو ته چې دالر5 ورځنې عايد لري. د کورنيو د غړيو په تناسب چې په اوسط ډول 9 کسه په يوه کورنۍ کې د هلمند په ولايت کې او 7 کسه په يوه کورنۍ کې د بلخ په ولايت کې دي چې دغه شمير پرلپسی د في کس ورځنې دالر1 د دالر0.70 په پرتله عايد ښکاره کوي.[27] که چيری د عوايدو نامساوات د ولاياتو په منځ کې او د څرګنده ستونځو د کړنلار پيژندنې مسايل چې په مخ په ترقۍ هيوادونو[28] کې د کورنيو د عوايدو معلومات په ګوته کوي يوی خواته کړو، د کورني يو کلن عوايد او د کورني نامنظمه کميت لکه د غربت مقياس، د طبعيت محدوده پوهه او د غربت کچکول په څرګند ډول د مزمنو شرايطو لاندی وړاندی کوي.

## استازي، د وکيل–موکل اړيکې او "مختصر قراردادونه"[29]

ډير مسايل دي چې بايد د کوکنار د سيمو د ډراماتيک کموالي د دريو مثالونو څخه د يو موسم نه تر بل موسم پوری زده کړای شي. د لومړي ځل لپاره په 1379 کال کې د طالبانو د حکومت فرمان ؤو، چې پس له هغې د کوکنارو سيمه 97 فيصده – د 82000 هکتاره مځکې څخه په 1379 تر 8000 هکتاره مځکې پوری په 1380 کال کې کمښت وموند. دويمه پيښه د ننګرهار په ولايت کې وه، چې د 1383 او 1384 کلونو د کر د موسم په منځ کې د کوکنارو سيمه د قابو 96 فيصدو څخه چې د 28213 هکتاره مځکه تشکيلوي، 1093 هکتار مځکې ته پريوته. دريمه پيښه د بلخ په ولايت کې وه چې د 1385 کال د کر د موسم په منځکې چې 7272 مځکه په کوکنارو وکرل شوه او په 1386 کې سفر هکتار ته ورسيده.

ددغه شرايطو څخه هريو، د کوکنارو په کر کې کموالې د اجبار په معنې د هغه کسانو پواسطه چې د قاچاق کنترول په لاس لري[30] دی نه په فزيکي ډول ريښه ايستنه او يا د کوکنارو د کر زمينه نامساعدونه. دا څرګنده ده چې وروستنۍ دوه پيښې چې د ننګرهار او بلخ په ولايتونو کې د کوکنارو په هکله د پاموړ هڅې ندي ترسره شوي څو اقتصادي وضع پورته تګ وکړي او کليوال نفوس

---

کارونو بوښت وو." د متحده ايالاتو حکومت، د افغانستان لپاره د مخدره توکو پرضد د مبارزې ستراتيژي، 1386م کال، 53 پاڼه.

[24] د احصايې مرکزي اداره، ټولنيز او اقتصادي او د جمعيت پيژندنې تاريخچه، کابل: د احصايې مرکزي اداره، 1383م کال.

[25] د ملي خطر او زيانرسيدنې دفتر 1384م کال. کابل: د کليو د پراختيا او پرمختګ وزارت او د احصايې مرکزي اداره، 1386 کال، 89-93 پاڼې.

[26] د مخدره توکو او جرمونو پرضد د مبارزې لپاره د ملګرو ملتونو دفتر/د مخدره توکو پرضد وزارت 1386 کال، 16مه پاڼه. 7م جدول د نمونو او معيارونو د انحراف نشتوالی لري لدی کبله د احصايې اهميت نشي کولای ورته منسوب شي.

[27] د ملي خطر او زيانرسيدنې دفتر 1384 کال، 88 مه پاڼه.

[28] "د کورني اقتصاد د حالت کچونه په مترقي هيوادونو کې د پاموړ ستونځې ښکاره کوي. هغه لومړني معلومات چې د شتمنۍ او د کورنيو د عوايدو او د لګښت کچه په دوه مکرره شاخصونو کې پکار وړل کيږي، ډيری مهال د لاسرسۍ وړ يا د اعتبار وړ نوي. په هغه هيوادونو کې چيرته چې د نفوسو ډيره برخه په خپل ځاني زراعتي منابعو کار کوي يا غيررسمي سکتور چې د عوايدو او لګښت کچې د مالي ارزښت په توګه څرګندوي، کيدای شي ډير زيات وخت ونيسي او د باوري توب غوره ستونځې پيښې کړي." تانجه هاولينګ ايت ال، "په مترقي هيوادونو کې د ماشومانو په منځکې د نامساوي صحت مقياسونه" ، د صحت د عدل لپاره نړيوال ژورنال (1382 کال)، 8 مه پاڼه. همدارنګه ښاغلې منتګومری ايت ال سره وګورئ، " د ژوند د معيارونو اندازه کول د بدليدونکې استازيتوب په واسطه" ، جمعيت پيژنه 37 (1379).

[29] استری سوهرک، کله چې ډيرڅه لګ وګڼل شي: په افغانستان کې مرکزی حکومت سره مرسته کونه، مادريډ: فرايد ، 1385م کال. "مختصر قرارداد" د خطر د کمونې او په نامعلومه شرايطو کې د يو کس د منصب د ساتنې يوه ستراتيژي ده.

[30] جان کوهيلر سره وګورئ، په افغانستان کې د بحران او مخالفت دوران او د کوکنارو اقتصاد، کابل: په مشرقي افغانستان کې د معيشت د لارچارو لپاره د GTZ پروژه، 1384م کال، همدا راز ادم پين 1386م کال.

ته د ښه فرصتونو په برابرولو کې اغېزمن ثابت شي څو هغوی د کوکنارو د کر څخه لاس واخلي. تر ټولو ښه کار چې ترسره شوی دی چې کولای شو هغې ته " د معیشت لارچاره" نوم ورکړو، د پور ورکولو پروژې دي چې د کوکنارو د کر د لمنځه وړلو سره یوځای په یو وخت په لاره واچول شوی او د سیمې د ځینو وګړو لپاره یې لنډمهاله پورونه په ځینو سیمو کې برابر کړې. د بلخ په ولایت کې هیڅ ډول شواهد وجود نلري څو جوته کړي چې د کوکنارو د کر د لمنځه وړلو لپاره د لاروچارو په هکله کوښښونه شوي وي.

د لاسته راوړنو لمخې، د کوکنارو کر د یو سوداګریز جنس ښې ته اوختې چې ځواکمن خلک د خپل ځواک حاکمیت پرې ازمایي. له یوخوا، هغوی د مسؤلینو په حیث باید د خپلو موکلینو رضایت او ملاتړ وساتي پداسې حالکې چې اجباري محدودیتونه هم شتون لري. او له بله پلوه، هغوی د وکېلانو په حیث باید خپل موکلینو ته ګټه هم ورسوي چې دا د هغوی د خارجي آمرینو لخوا طرحه کېږي چې دغه مسؤلین په خپلو خارجي آمرینو باندی حاکمیت نلري. لدی کبله، کوکنار نه یواځې د یو نشه راوړونکي غیرقانوني توکو په ډول قاچاق کېږي بلکې د ملي او محلي قانون ماتونکو ځواکمنو لپاره یو وسیله ده. د بلخ ولایت والي د هغه ډېرو والیانو په صف کې قرار لري چې د کوکنارو په لمنځه وړلو کې د سیاسي ګټې د لاسته راوړلو په موخه د یو کال په اوږدو کې ډېرې هڅې کړي دي. د دې څخه مخکې نورو والیانو په ننګرهار کې د حاجي قدیر په ګډون په 1374 کال کې، شیرمحمد اخندزاده د هلمند په ولایت کې په 1383 کال کې او حاجي دین محمد په ننګرهار کې په 1384 کال کې هم د سیاسي ګټې د لاسته راوړلو لپاره خپلې هڅې کړې دي. دغه هڅې په هغه وختونو کې ترسره شوي چې د هیواد اقتصادي وضع لاپخوا د مخدره توکو لپاره نامساعده وه. د کوکنارو کر او لدی پلوه د والیانو د استازو لپاره په زړه پورې،[31] په اوسنیو شرایطو کې دا د یو والي لپاره ډېره ده څو د کوکنارو د کر په کموالي کې لاډېر زیار اوباسي او دا ټولې د مخدره توکو پرضد هڅې خپلو مبارزوته منسوب کړي.

د ننګرهار ولایت په څېر په 1384 کال کې او د هغې څخه د مخه نور ولایات، پدی وروستیو کې د کوکنارو د کر د بندیز تقویت د بلخ په ولایت کې د پرمختللي حکومتدارۍ نښه نه بلکې دا د سیمه ایز ځواکمنو خلکو د نړیوالې ټولنې د سیاسي او اقتصادي ملاتړ د ترلاسه کولو لپاره یوه پراخه او تنظیم شوی مبارزه ده. په نړیواله ټولنه کې قانون ماتونکي او د هغوی ملاتړي چې بندیزونه تقویت کوي داسې څرګندیږي چې دوی هغه واقعي خلا ته پاملرنه نکوي چې محلي نفوس د کوکنارو د لاسه ورکولو څخه رنځ وړي. د بلخ ولایت والي اشاره کوي چې د بلخ ولایت د کوکنارو د لمنځه وړلو په برخه کې لازمه مرسته پدغه کال کې نده ترلاسه کړې. د کوکنارو د کر د بیرته راګرځېدو ګواښ په خپل قوت او شدت کې پاتې دی او د تنباکو[32]

د کر په برخه کې د پاموړ شواهد هم لیدل شوي دي. په افغانستان کې د کوکنارو په لمنځه وړلو کې دا رازګواښونه بې ساري ندي.[33]

پدی دریو پیښو کې د کوکنارو د چټک کمښت پایلې څه دي؟ د طالبانو بندیزونه، په نرخونو باندی د هغې اغیزې او د کوکنارو د کر لپاره د قرضونو ټاکل په سمه توګه څرګند شوی دي. د نرخونو د پورته تګ سره چې وروسته د مخدره توکو اقتصاد ته توسعه ورکوي.[34] د ننګرهار په برخه کې د کوکنارو د کر د لومړي کال بندیزنو د کورنیو په کارګره طبقه باندی د قحطۍ مختلفې اغیزې لرلې چې هغوی یې مهاجرت ته اړ کړل او د سیمې د خلکو اقتصاد یې په شدت سره لمنځه یووړ.[35] پداسی حالکې چې هغه سیمې چې مارکېټ ته ښه لاسرسي لري او د کافي اوبو څخه برخه مند دي، د سبزیانو لپاره د مارکېټ موندلو د پراښتیا شاهد اوو چې د کارکونکو د باړې په برخه کې اغیزمن ثابت شوي دي، او هغه سیمې چې مارکېټ ته یې محدوده لاسرسي درلوده، د منابعو له پلوه محدوده عطا او د مځکې کوچنۍ مساحت د کوکنارو د بیا کر لامل ګرځیدلي دي. په ناحیرانونکي ډول د کوکنارو د لمنځه وړل تلپاتې ثابت شوي ندي او د معیشت د لارچارو پروژې په ډېرۍ هغه ولسوالیو کې چې کوکنار پکې کرل کېږي د قناعت وړ پایلې نه درلودې. اوس هم ډېر وختي دي څو د 1386 کال د بندیزونو قانونیت د بلخ په ولایت کې وموندو، خو دا ممکنه ده چې د کوکنارو کر په هغه ځایونو کې چې د اوبولو صحیح سیستم لري او د اوبو ویش کنترول د سیمه ایز ځواکمنو ډلو په لاس کې دی، بیرته راتګ وکړي.

د مخدره توکو پرضد د مبارزې د وزارت ځواب دا دی چې د معیشت د لارچارو پروګرامونه د کوکنارو د عوایدو د لاسه تللو ته ځواب ورکونکي دي. دا ډول پروګرامونه په حقیقت کې د لنډمهالې قرضې پروژې د کار لپاره او پانګه اچونې چې د سوداګریز زراعت کښت ته زمینه مساعدوي، منتج کېږي چې ډېره پاملرنه یې د ډېر ارزښت لرونکي حیوانی او نباتي محصولاتو ته ده. دا یوه لار ده چې د شتمنیو د پاموړ هغه سیمو کې چې بازار ته ښه لار لري ګرځي، چې پدغه سیمو کې د کوکنارو د عاید څخه د وتلو لارې په ښه توګه موجودې دي چې د ننګرهار ولایت په ځینو سیمو کې لیدل شوي دي. خو دغه

[31] په ننګرهار کې د 1384م کال د کوکنارو د کمښت د پړاونو د محاسبې د لاډېر تفصیل لپاره دیوید مینسفیلد سره وګورئ.

[32] د سیمه ییز کار په اساس چې د یوی افغان غیردولتی موسسې پواسطه په 1386م کال کې په چمتله کې پغاړه اخستل شوی وو، رپوټ ورکړ چې بزګرانو په پام کې لاره څو د 1386م کال د کر په موسم کې د کوکنارو کر ته بیرته مخ وګرځوي. د لیکونکي شخصي اړیکې او خبری اتری، 1386م کال. همدا رنګه ریوترس، "د کوکنارو لپاره د افغاني بزګرانو لارچار موندنه" ، 1386م کال.

[33] د ایرین ورځپاڼه، "په کوښښونو باندې تاکید څو کوکنار لږ کړي" ، 1384 کال.

[34] د بلخ په ولایت کې د 1380م کال څخه وروسته د کوکنارو د کر د پراختیا تغیراتو لپاره، د 1386م کال ادم پین ته مراجعه وکړئ.

[35] دیوید مینسفیلد 1385 کال.

لار د غريبې طبقې علاقه او اړتياوې له پامه غورځوي. د هوساينې او بيا رغونې اغيزې که د سرته رسيدو په حال کې هم اوسي، په يوه شپه کې نشي کولاې ترسره شي – د کليو د پراختيا پروژې اوږدمهاله دي. د معيشت د لارچارو پروګرامونه هم پدې برياليي شوي ندي څو هغه موضوعات چې په افغانستان کې د کوکنارو د کر سره مستقيمې اړيکې لري د پامور وګرځوي.

په لنډمهال کې، دا د مرستندويه انکشافي پروګرامونو لپاره ناممکنه ده څو هغه خلا ډکه کړي چې د کوکنارو د کر د لمنځه وړلو له امله کليوال خلک ورسره مخ دي. په سختو اقتصادي حالاتو کې چې په ميلمه شوي ډول هرومرو راځي، دا د واليانو لپاره ګرانه ده څو سياسي سرمايه چې د بنديزونو د راتلونکو کلونو لپاره اړتيا لري، لاسته راوړي. شواهد ښکاره کوي چې په جبرى ډول د کوکنارو کر ته پاى ورکول دوامداره نوي، او د ننګرهار په برخه کې د کوکنارو د بيا کر او د دولت ضد ځواکونو د اقتدار لامل ګرځيدلې دي.

د محلي نفوس دغه د رضايت او اعتبار د لاسه ورکول د سيمه ايز قانون ماتونکو او د هغوى پاس لاسو مسؤلينو لپاره د کوکنارو د کر د چټکې پريوتنې دويم برى دى. دا د مخدره توکو پرضد د مبارزې د طبعيت په خلاف غوسه او د کورنيو په اقتصاد د هغې ناوړه اغيزه او د هغوى منفي درک د هغه کسانو څخه ځرګندوي چې د مخدره توکو پرضد د مبارزې د پلي کولو دنده پغاړه لري. د ننګرهار په ولايت کې شکايتونه رامنځته شوي چې د خلکو مهمو اړتياوو ته پاملرنه نکيږي لکه امنيت، کارموندنه او د اداري فساد لمنځه وړل، او دولت او نړيواله ټولنه د مخدره توکو ستونځې ته د خلکو د کرونډو په ويجاړولو سره رومبې توب ورکوي.

هغه حس چې دولت علاقه لري څو د کوکنارو په کر د بنديزونو د پلي کولو په موخه په ځينو سيمه ايزو خلکو کې غربت لازيات کړي چې دغه حس سيمه ايز خلک لاډير منحرف او بيزاره کړي دي. ډيرى بزګران پدى عقيده دي چې کوم کسان چې د کوکنارو د کر بنديزونه غښتلي کوي او د هغوى کښت لمنځه وړي خپله د مخدره توکو په قاچاق کې لاس لري چې دا موضوع لا بدتره کوي. همدارنګه د بډى اخستلو د زياتوالي درک او هغه حس چې د محصولاتو ريښنه ايستنه يواځې زيانرسيدونکو ته متوجه دي او د هغه کسانو د محصولاتو څخه چې په قدرت کې دي سترګې پټول کيږي.[36] په ځينو سيمو کې، دغه نظريات د نفوسو د تقسيماتو لامل ګرځيدلي دي چې ځينې خلک غواړي د دولت د ملاتړ څخه لاس واخلي او ځينې نورى ډلى دا نظر ردوي. په اکثر هغه ځايونو کې چې د کوکنارو د کر لمنځه وړل او مشقونه ترسره شوي دي، شواهد څرګندوي چې بزګران په فعال ډول هڅه کوي څو د دولت په مقابل کې ودريږي او په عوض کې د دولت ضد مخالفينو ملاتړ لاسته راوړي. د ننګرهار په ولايت کې ناامني په پراخه پيمانه کولاى شي د 1384 او 1385 کلونو د کوکنارو په کر بنديزونو ته منتج شي او همدارنګه په 1386 کال کې د هغې د لمنځه وړلو ته منسوب شي.[37]

طالبان او د دولت ضد نور قوتونه داسى مالوميږي چې ددى سلوک څخه يې کار اخستي وي. د 1370مه لسيزې سره په مغايرت کې کله چې طالبانو د کوکنارو د کر او سوداګرۍ لپاره يو مناسب چاپيريال منځته راوړ خو هغې ته يې وده نه ورکوله[38] په 1385 او 1386 کلونو کې طالبانو په څرګند ډول د کوکنارو کر تشويق کاوه[39] پداسې حالکې چې ځينې ادعاوى وايي چې دغه هڅونه د ياغيتوب لپاره د مالي زمينې برابرول ؤو. د دولت ضد ځواکنو لپاره ستر مفاد سياسي ملاتړ دى چې د هغه کسانو لخوا چې مستقيماً د مخدره توکو په قاچاق کې ښکېل دي لاسته راوړي.

په ځينو ځايونو کې، طالبانو بى له شکه د کوکنارو کر څخه د درجه بندۍ، يوه وسيله او د خلکو د ملاتړ د لاسته راوړلو په موخه استفاده کوي. هغوى ځانته د کوکنارو د ريښنه ايستنې څخه د حفاظت کونکو موقف ورکړې دي، اند که دا امر ضروري وي يا د ضرورت له مخې پلي شوي.[40] دا ډير ممکن ده چې د هغوى دغه د کوکنارو د کر د تشويق ستراتيژي د دولت د تحريکولو په موخه وي څو دولت لاسخته ستراتيژي د کوکنارو د لمنځه وړلو لپاره غوره کړي، چې په حقيقت کې د سيمه ايزو خلکو او دولت او د هغوى نړيوال ملاتړ کونکو په منځکې اختلاف رامنځته کړي.

---

[36] ويليم بايرد او دوريس بددينبرګ (ادس)، د افغانستان د مخدره توکو صنعت: جوړښت، فعاليت، تحريکونه او د مخدره توکو پرضد پاليسۍ باندې د هغې اغيزې، کابل: د مخدره توکو او جرمونو پرضد د مبارزې لپاره د ملګرو ملتونو دفتر/ نړيوال بانک، 1385 کال، 20مه پاڼه. ډيويد مينسفيلد 1386 کال، "د انځور بله بڼه": د هغه کليوالو کورنيو د معيشت د بدلون حالت پيژندنه چې د1386م کال د کر په موسم کې يې کوکنار کرل. کابل: د انګلستان حکومت د افغان مخدره توکو اداري واحد ، 1386 کال.

مينسفيلد ډيويد 1385 کال. د "خړ سيورى" ارزونه: د هغه عواملو اټکل چې په 1385م کال کې د کوکنارو کر پريکړه تر اغيزې لاندې راوړي." د انګلستان حکومت د افغان مخدره توکو اداري واحد لپاره يو رپوټ.

[37] په 1386م کال کې په ننګرهار کې سيمه ييز کارچې د ډيويد مينسفيلد پواسطه په لاره واچول شو (ددې رپوټ به ډير ژر د افغانستان د څيړنې او ارزونې اداري لخوا خپور شي).

[38] په 1370مه لسيزه کې طالبانو يو اندازه امنيت تامين کړ چې له امله يې د کوکنارو سوداګرۍ برئ وموند. په عين وخت کې د کړکيچن حالت اغيزې او په عامه او خصوصي سکتورنو کې د پانګه اچونې کموالي لامل وګرځيد څو د کوکنارو د کر لپاره لړۍ لارچارى پيدا شي. دا نبايد وويل شي چې د طالبانو عناصر د کوکنارو په سوداګرۍ کې ښکيل نه وو خو د کوکنارو د کر او سوداګرۍ لپاره يو مشخصه ملي پاليسي شتون نه درلود چې د کوکنارو په اقتصاد باندى تطبيق شي تر هغه وخت پورى چې طالبانو په 1379م کال کې په کوکنارو بنديز ولګاوه. ډيويد مينسفيلد ، په کرونډه کې د کوکنارو د سوداګرۍ تحريکونه او د کوکنارو د سوداګرۍ د سرماتي ستراتيژۍ، اسلام آباد: د مخدره توکو او جرمونو پرضد د مبارزې لپاره د ملګرو ملتونو دفتر، 1378 کال.

[39] ډيويد مينسفيلد 1386 کال.

[40] ډيويد مينسفيلد 1385 کال.

## کېمیاوي دوا شیندنه، او تفرقه اچونکي مسایل

نن په افغانستان کې هیڅ یو موضوع د دوا شیندنې څخه چې د کوکنارو د محصولاتو د ریښه ایستنې په موخه پکار وړل کېږي تفرقه اچونکې نده. کوکنار چې د ناتو ځواکونو پواسطه لمنځه وړل کېږي ښکاره کوي چې د افغانستان کلیوال نفوس د دا راز حرکت سره په افغانستان کې مخالفت کوي. کوم شواهد چې په 1385 کال کې د سیمې څخه لاسته راغلي، چې په کوم وخت کې چې کېمیاوي ریښه ایستنه په مطبوعاتو کې او په ولایاتو کې د مامورینو پواسطه بحث کېده، د کلیوالو خلکو لخوا نقیض ځواب ورکړل شو.[41] د کېمیاوي توکو پواسطه پر کوکنارو د دوا شیندنې کمپاین چې په ځانګړې توګه د دښمنۍ د یو عمل په څیر د خلکو په مقابل کې چې نه یوازې نباتات په نښه کوي درک کېده. په حقیقت کې، ډیر خلک پدې عقیدې ؤو چې دوا شیندنه ښایي د کوکنارو په ناکامۍ او د محصولاتو د نباتي مرضونو او ښایي هم د څارویو او خلکو په مرګ او میر کې ناوړه پایلې ولري. دا چې دغه ویره منځته راغله که نه، حقیقت دا دی چې دغه دوا شیندنه په عمومي ډول په هغه ځایونو کې چې د غنمو کر په پراخه اندازه متمرکز وي، استعمالیږي پداسې حالکې چې دغه معلومات په هغه سیمو کې چې کوکنار پکې په ګڼ ډول کرل کېږي محدود دي،[42] چې دا د هغه کسانو د پاموړ ناداني ښکاره کوي کوم چې باید ددی څخه ګټه واخلي. په یو داسې چاپیریال کې چې د مړینې او شیدې خوړونکو او ماشومانو د مرضونو د پراختیا درجه لوړه ده، چیرته چې د کر ناکامي عام ده، په دغه ځایونو کې کلیوال نفوس د پاموړ فشار لاندې ژوند تیروي، د شک ځای ندی چې دا ډول پیښې د دولت ضد یاغیانو پواسطه د خلکو په منځکې ترغیب شي او کېمیاوي ریښه ایستنې پورې دې وتړل شي. د کوکنارو د لمنځه وړلو په موخه د دوا شیندنې استعمال د دولت ضد یاغیانو ته د ستر

پروپاګند زمینه مساعدوي. ډیرۍ ټولنې چې په جنوب او شرق کې ژوند کوي په فعاله توګه د طالبانو ملاتړ نکوي، بلکې د خلکو د تشویش زیاتیدنه پدې کې ده چې دولت نشي کولای اند د هغوی فزیکي امنیت تضمین کړي - حکومت یو پراخبنسټې او بریالې مرکزي قانوني فعالیت نلري. هغوی نه غواړي "د افغانستان اسلامي امارات" ته بیرته وګرځي خو د ملکي خلکو مرګ ژوبله، د فساد بی سارې کچه، او د نړیوالو د نشتون تشویش په افغانستان کې څو د خلکو حیاتي ګټې خوندي وساتي، دا هغه عوامل دي چې خلک یې زړه سترې او ناهیلې کړي دي.

خلک په ډیرۍ سیموکې اړ کېږي څو د هغه هیلو څخه منحرف شي چې دولت امنیت، حکومتداري او اقتصادي پرمختګ چې د خلکو د سوکالۍ لپاره ضروري ده راوړي، پداسې حالکې چې پدی هم پوهیږي چې دولت کمزوری او فاسد هم دی او په ځینو سیمو کې نشي کولای دغه مقاصد حاصل کړي. پدغه زمینه کې، یو شدید کمپاین چې کیمیاوي دوا شیندنه د ځان سره ولري بی شک ډیر زیان به ولري په هرحال هغه اعتماد چې خلک نسبت دولت ته لري ښایي لمنځه ولاړ شي. پداسې حالکې چې د یاغیانو لمنځه وړنه د ریښه ایستنې د ملاتړ په موخه منځته راځي، تاریخ ښکاره کوي چې د یاغیانو پرضد عملیات د سیمې د خلکو ملاتړ ته اړتیا لري څو یاغیان په ګوښه کې وساتي – او دوا شیندنه لامل ګرځي څو دغه دوه ډلې یوبل سره لاډیرې نږدې شي.

---

[41] دیوید مینسفیلد 1386 کال. 44-45 مه پاڼه.

[42] هربیسایدز (هغه کیمیاوي توکي چې په مځکه کې اضافي ګیاه لمنځه وړي) په هغه ځایونو کې استعمالیږي چې ډیره زیاته مځکه په غنمو کرل شوی وي. دغه کیمیاوي توکي ددی لپاره استعمالیږي څو هغه اضافي ګیاه د کنترول لاندی راولي کوم چې د محصولاتو د ودی په دوران کې په مځکو کې زرغونیږي. په شرقي زون کې بهسود، سرخرود او کامه په ننګرهار ولایت کې او قرغه یی په لغمان کې ښایي هغه ولسوالۍ اوسي چې دا کیمیاوي توکي پری استعمال شوی وي. په هغه ولسوالیو کې چیرته چې خلک د لګه مځکه لري، غنم لږ کرل کیږي او خلک کورني څاروي ساتي او مالداري وي، دغه کیمیاوي توکي نه استعمالیږي ځکه چې دا اضافي ګیاه د څارویو د خوړو لپاره استعمالیږي. د سیمه ییز کار په اساس چې د دیوید مینسفیلد پواسطه په 1386م کال کې په ننګرهار کې ترسره شو (ددی ریپوټ ډیر ژر د افغانستان د څیړنې او ارزونې ادارې لخوا خپریږي).

# 4. د پالیسۍ اغیزې

دا مهمه ده څو په افغانستان کې د کوکنارو د کر زیاتوالی د غریبو کورنیو په زراعتي اقتصاد کې چې خورا لږ وسایل او منابعو ته محدوده لاسرسي لري باید د کوکنارو د کر نه بدلیدونکي کموالي په برخه کې د اجراتو د رول درک وپیژندل شي. د هغه کورنیو لپاره چې د ننګرهار یا بدخشان ولایت په لوړو دروکې، د بلخ ولایت د چینو لاندی سیمو کې، بې ځمکې کورنۍ د بلخ په ولایت کې یا غریبې کورنۍ چې د هلمند په ولایت کې اوسیږي، هیڅ شې نشي کولای د کوکنارو ځای ونیسي. که چیری ریښنه ایستنه په جدی توګه ونیول شي دا به د کلیوالو غریبو کورنیو چې د ناامنۍ په سختو شرایطو کې ژوند کوي د ژوند په وسیله باندی مستقیمه ضربه وي. د بل محصول د کر ټاکنې او د کوکنارو د کر څخه د وتنې د بریالۍ لارو نشتون، د هغوی لپاره زغم یواځنۍ لاره به وي. دا په طبیعي شکل هغوی هغه کسانو ته ورپیژني چې د هغوی ملاتړ کوي.

ددی په رڼا کې، هغه ادعاوی چې د مخدره توکو او جرمونو پرضد د مبارزې لپاره د ملګرو ملتونو دفتر او د متحده ایالات او د انګلستان او افغانستان حکومتونو لخوا د ریښه ایستنې د کچو د زیاتولو په هکله دي، باید په دقیق ډول په پام کې ونیول شي. د ریښه ایستنې پرضد حقیقي بحث – په لږه اندازه ندي، څله 95 فیصده زیربطه خواوی چې د کوکنارو په اقتصاد کې لاس لري چیرته چې 20 فیصده د محصولاتو ارزښت موجود دې او د هغې پنځه فیصده ناګهلې ګټل کیږي، چیرته چې 80 فیصده په نورو ځایونو کې تولید شوي دي ټینګار وشي چې تکرار ته یې اړتیا نیشته. د ریښه ایستنې د زیاتوالي اغیزې او د هغې ممکن تعدیل کیمیاوي دوا شیندنې ته د کلیوال نفوس د رضایت ساتلو ته ستر ګواښ دې. د هغه ادعاوو له کبله چې د کوکنارو او یاغیتوب ترمنځ د تړاو په هکله منځته راغلي، باید په پام کې ونیول شي چې د یاغیتوب د ماتولو ښه لار د ټولنیزی او اقتصادي "بنیادي ګټو" او د سیمه ایزو ټولنو پیژند او د هغوی احترام ته اړتیا لري. د یاغیتوب د لمنځه وړنې فعالیتونه باید طرحه شي، پدی ترتیب دا یادی شوې ګټې نه تهدیدوي. د یاغیتوب د لمنځه وړلو فعالیت د مخدره توکو پر ضد د مبارزې د پلي کولو سره همغږی دې. بدبختانه د مخدره توکو پرضد د مبارزو ریښتنی مشقونه اکثراً بی ګټه وي، چې د معیشت په تزلزل کې د ډیروالي لامل ګرځي نسبت دی ته چې په هغې کې کموالي راوړي او هغه انګیزه په تحریک راوړي چې نه حکومت او نه نړیواله ټولنه د سیمه ایزو ټولنو په اقتصادي او ټولنیزو ګټو کې علاقه لري.

د کوکنارو د متغیره کچو په هکله د خبرو اترو لپاره ځای شته، د سیمې څخه شواهد توصیه کوي چې په لنډ مهال کې د کوکنارو په کر کې کموالي په هغه سیمو کې چې د ولایتي مراکزو شاوخوا نږدې پرتې دي بریالي شي ، چیرته چې ډیری کورنۍ د زراعت مناسبو وسایلو او د کار بازار ته لاسرسي لري، او چیرته چې لږ تر لږه حکومتي امنیتي ځواک وجود لري. پدغه سیمو کې، په

پراخه توګه د کروندې د سیستمونو په تغیر او په باغدارۍ کې په لوړه اندازه د تولید امکان موجود دې. ددغه شرایطو لاندی، د سبزیجاتو سوداګر علاقه لري څو د کوکنارو په څیر د پیشکي پیسو وړاندیز وکړي، محصولات په کرونده کې واخلي او ترانسپورتي مصارف هم ومني. پدی توګه په سیمو کې بزګرانو د کار د باړې فرصتونه د سوداګریز محصولاتو او د مالدارۍ د تولیداتو سره یوځای کړي دي، چې ښایي کورنیو ته د کوکنارو د محصول معادل برابر کړي. دا راز تغیرات امکان لري د غیردولتي لوبغاړو سره مرسته او د دولتي استازو څخه اجاره – لټونه لږه کړي کوم چې د ناامنۍ په کموالي کې مرسته کوي.

دا هم جوته ده، په هرحال د کوکنارو د کر د کموالي اقدامات د وخت او موقعیت د تغیر سره یوشان ښایې نه اوسي. هغه کسان چې کوکنار کري د یو متجانسه ډلی څخه ندي، خو وسایلو ته د هغوی د لاسرسي په لحاظ او د کوکنارو کر ته د هغوی د تړاو کچې څو خپلې لومړنۍ اړتیاوی برابری کړي، توپیر لري. په مساوي ډول، د امنیت غیررسمي رژیم طبعیت او اغیزې ثابتوي چې د بلخ ولایت د چینو ترڅیرمه او لاندی سیمو په پرتله یا د بدخشان ولایت د بهارک او جرم ولسوالیو ترمنځ ، ډیر زیات بدلیدونکې دې. د کوکنارو د کر څخه بهر وتل په ډیرو د لاسرسۍ وړ سیمو کې د لري پرتو سیمو سره چیرته چې د زراعت مناسب وسایل او د کار د بازار فعالیت نامکمل دې، طبیعی وسایل محدود لکه مځکه او اوبه، د ویجاړ شویو سرکونو سره او د ترانسپورت لوړ مصارف چې د سبزیجاتو د تولید د تغیر څخه مخنیوې کوي، توپیر لري. ناامني او د ضعیفه حکومت شتون د قانوني اقتصادي پرمختګ څخه مخنیوې کوي. ډیرځ وخت، د سیمه ایز قانون ماتونکو سیاسي او مالي ګټې د کوکنارو د کر پورې د تړاو لوړې کچې لابدتروي او د کورنیو د قانوني اقتصادي لارو د دوامداره بدلون څخه مخنیوې کوي.

د سیمه ایزو او مرکزي مقاماتو هغه کوښښونه څو د کوکنارو کر په چټک ډول لږ کړي اکثراً په بدبینۍ او غوسه څرګند شوي، او کېدای شي د سیمه ایزو قومندانانو د یو پراخه هڅې په څیر د خپل سیاسي او اقتصادي کنترول د تقویت په موخه ولیدل شي. دغه هڅې همدارنګه کولای شي په مشروع اقتصاد هم د مصرف وړ عوایدو د کمولو پواسطه او پرلپسې د خرڅلاو او کارموندلو د فرصتونو او د راتلونکي لپاره د سیمه ایزې ټولنې او دولت ترمنځ د اړیکو ضعیفول تر اغیزې لاندې راوړي. په هغه سیمو کې چې دغه

شرایط د پلي کېدو وړ دي، د کوکنارو د لمنځه وړل بنايي ډېر وخت ته اړتيا ولري، ممکن د يو نسل په اندازه.

هیڅ یوه لنډه لار وجود نلري، او چټک تحمیل بنايي د کليوال نفوس په رضايت کې ګران تمام شي او بنايي هم د غیررسمي او تیاره حکومت د لړوالي هیله مندي چې د نن ورځې افغانستان څرنګوالې په ګوته کوي، لمنځه یوسي.

## 5. مخ په وړاندې لارې

د کوکنارو کر ډېر کليوالو کورنيو ته يو مهمه وسيله وړاندې کوي چې هغوی کولای شي په افغانستان کې د خطر او نا امنۍ نفوذ کونکو شرايطو لاندې خپله هوساينه ترلاسه کړي.

د مخدره توکو پرضد د مبارزو پرلپسې عملي کول د ريښه ايستنې وخت او هڅې ته رومبېتوب ورکوي او کوښښ کوي څو د انفرادي بزګرانو سلوک د هغه زميني د بدلون څخه پرته چې په پراخه توګه پدی ژمن دې چې ولې او څرنګه بزګران حرکت کوي تغير ورکړي، چې د دې دوام ناشونې او بنايي هم بې ګټې اوسي.

د کوکنارو د کر د کچو په هکله لومړني معلومات اکثراً ضعيفه وي او ضعيفه تحليل چې د هغې بنيادي علت ترمنځ اړيکه کرکېچنه کوي چې ډېرۍ وخت د پاليسۍ په خاصو حالاتو کې ټاکونکې وي. د غربت او نا امنۍ د وضعيت په هکله د پاليسۍ د مهمو اسنادو وړاند وينه محدوده او سطحي وي.

ډېر پراخه کوښښونو ته اړتيا ده څو د هغه بنيادی دلايلو د پيژندلو لپاره چې د کوکنارو د کر تغيرات په ګوته کوي، پکار ويوړل شي. دا بايد د خطر د څو – ابعادي وضعيت د قوي تجزی پواسطه او دا چې څرنګه د هغې سره د ولسواليو او ولاياتو په اساس عکس العمل وشي، حمايه شي. دا بايد د کليوال معيشت د ميانځګړتوب سره مرسته وکړي څو هغه کورنۍ په ښه ډول په ښه کړي چې اوبو لرونکو مځکو ته محدوده لاسرسي لري او محدود زراعتي او غيرزراعتي عوايد لري. د دغه راز يو تحليل څخه پرته، د مخدره توکو پرضد د مبارزې تمرينونه به په يو داسې دام کې ظاهر شي چې د هغې په ښو باندې عمل کوي نسبت دې ته چې د هغې عوامل څرګند کړي.

د کوکنارو د کر په کچو کې يوځلي کموالې د هغې د پاې په معنا ندې حتی د مخدره توکو پرضد د پاليسي لپاره هم. د تاريخ له لحاظه، دا ډول کموالې لنډ – مهال ثابت شويدې او په ځانګړې توګه د هغه پرمختګ بنسټ يې لمنځه وړې دې چې د پخوا څخه د کوکنارو د کر د دوامداره لړوالي لپاره لازم دې. د مخدره توکو د کنترول لپاره د اجرااتو مقياس نه بايد يوازې د کوکنارو د کر په کموالي کې وليدل شي، دا ضروري ده څو په هغه زمينه کې چې د کورنيو کړه وړه ټاکي د پامور تغيرات راشي، مځکې لدی چې د کښت په طرحه کې کوم تغيرات راشي او د معيشت فعاليتونو ته د "برياليتوب" نوم ورکړ شي.

ريښه ايستنه که په ستراتيژيک ډول ترسره شي اغيزه لري، خو ريښه ايستنې ته عموميت ورکول عاقلانه کار ندې. ريښه ايستنه کيدای شي په هغه ځايونو کې چې د څېړنې وړ دي تجزيوي رول ولوبوي چې دا په هغه ځايونو کې چې مارکيټ ته ښه لاسرسي لری د اجرا وړ دی. په هغه سيمو کې چې کورنۍ د کوکنارو د زرغونيدو څخه برخه مند ندي، په هر حال ريښه ايستنه احتمال لري د ډېر اقتصادي بحران، نا امنۍ او د سياسي انديخنو لامل وګرځي. لاسي ريښه ايستنه د ټولو نيمګړتياوو سره سره يوازينۍ لار ده چې تعقيب شي، کېمياوي دوا شيندنه د تيري او زور زياتي تهديد يا د مطلوب مرام اعلام چې د ياغي ډلو څخه په فعاله توګه ملاتړ کوي لمنځه وړي.

د ميانځګړتياوو ډولونه چې د بزګرانو د محصولاتو د زيان لپاره د يو څرګنده ځواب په څير طرحه کېږي هغه بنيادي دلايل نه په ګوته کوي کوم چې بزګران اړباسي څو په لومړي قدم کې کوکنار وکړي. هغوې د خطر او نا امنۍ مزمن مسايل نه څرګندوي چې د رسمي او غيررسمي غيرمسول قدرت لرونکو او د عامه فوايدو د نشتون له امله منځته راځي. په پای کې، د کوکنارو کر د ډېرو خلکو په منځکې د لږ خطر لرونکي محصول په څير

چې د ټولنې لپاره ستر خطر دې، ګڼل کيږي. د دغه درک بدلون ته د هغه ډيريدونکي خطر په پرتله چې د کوکنارو کر سره د ريښه ايستنې پوسيله يوځای دی او يو اندازه لنډمهاله انکشافي مرسته برابروي، د ډير اهميت لرونکې دی. ډيرو بنيادي تغيراتو ته اړتيا شته څو د خطر او ناامنۍ د زمينې په کموالي کې چې عامه فوايد د فزيکي او اجتماعي بنسټونو په برابرولو سره تامينوي، او د فقر تشکيلاتي عوامل لکه په زراعت او کليوال غيرزراعتي سکتور کې چې د غريبې طبقې پرمختګ ځرګندوي.

دا يو ستر خطر دی چې د افغانستان دولت او نړيواله ټولنه ليدل کېږي چې د کوکنارو د سيمو د کمولو په موخه سيمه ايزو قانون ماتونکو ته مکافات ورکوي، پداسې حالکې چې په حقيقت کې دغه خلک د خپل موقف د تقويت لپاره د کوکنارو راکړه ورکړه کوي. د کوکنارو په کرل شويو سيمو کې د کموالي يو ښه فعاليت نشو کولای په کافي توګه مقياس کړو، بلکې بايد د پرمختګ د تحول په پراخ پړاو کې د يو برخې په څير د مخدره توکو پرضد د مبارزې په ګډون وليدل شي لکه سپيڅلې او د اعتماد وړ حکومتداري.

رومبېتوب بايد د مخدره توکو پرضد د مبارزې د بشپړتيا پاليسۍ ته چې موخه يې پراخ اقتصادي پرمختګ، امنيت او ښه حکومتداري ده ورکړل شي – دا د کليوال نفوس رمبېتوبونه دي. د مخدره توکو پرضد اقدامات چې د دغه رومبيتوبونو څخه سترګې پټوي يا يې لمنځه وړي ښکاري چې ډير ژر به د نفوسو رضايت له لاسه ورکړي او د دولت پرضد مخالفت زيات کړي. د فساد پرضد اقدامات د غيررسمي مالياتو د لمنځه وړلو په ګډون چې په پاټکونو کې حصوليږي، دا هغه مهم مسايل دي چې د دولت ملاتړي زياتوي او د کوکنارو د کر څخه د بهر وتلو پايداره تغير تقويت کوي.

د سيمې څخه شواهد ښکاره کوي چې د کوکنارو د کر د اقتصاد پرمختګ پايله ده – نه په افغانستان کې د دولت او پرمختګ د ناکامۍ دليل. دولت او نړيواله ټولنه هڅه کوي څو د افغانستان دولت بيا ودان کړي او د پرمختګ لپاره دوامداره او پايداره بنسټونه برابر کړي، د مخدره توکو پرضد د مبارزو ښه تمرينونه بايد ددې هڅو سره يوشان وي چې د کوکنارو د کر د اقتصاد دلايل په ګوته کوي نه علايم.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره يوه خپلواکه څېړنيزه موسسه ده چې د پاليسي جوړونې بهير ته آسانتيا او د اجرائيوي فعاليتونو د کارولو لپاره د کار وړ مطالعې او څېړنې تر سره کوي. سربېره پر دې د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په ځغرده هوډ کړئ دئ چې له دې لارې د څېړنې فرهنګ ته وده، تحليلي ظرفيتونه رامنځته د معلوماتو د تحليل او شننې فرصتونه برابر او د خبرو او اترو فضا ته پراختيا ورکړي. د دغه ادارې تر ټولو اړينه موخه دا ده چې د خپلو فعاليتونو په بهير کې د افغانستان د خلکو د ژوند په بهير کې ښه والۍ راولي.

د زيا تو معلوماتو او يا نشراتو د لاسته راوړلو لپاره په دې پته اړيکه ونيسی:
دافغانستان د څېړنې او ارزونې اداره:
د ګل فروشۍ کوڅه (د دوهمې کوڅې څنډه)، نوی ښار، کا بل، افغانستان
ټيليفون: ۹۳۰۷۹۲۰۸۵۴۸+
برېښناپته:areu@areu.org.af
برېښناپاڼه:www.areu.org.af